## ...نامه روزنه

...قرآنکریم ...احا... او علماء ... د ... وبو
... په رڼا کې ... ګانو د تربیت لپاره ۳۳ لا... ...ني



لیکوال:
شیخ عبدالملک بن محمد بن عبدالرحمن القاسم

ژباړن:
سید معصوم الله (عاصم)

دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډاونلوډ شوی. او هم د نورو غوره
او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون درسره وڅارئ.
زموږ ټلیګرام چینل لینک
https://t.me/paktekawalafghan/7
زموږ فیسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan



اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

نن یوه ورٍه غوښتنه د کتابتونونو له مدیرانو او مالکانو نه کوم ،

هغه دا چي په کتاب کې د یو څو لایکونو او مشهورتیا په

په خاطر زموږ لوګو او نوم له کتاب نه مه ﴿ حذف ﴾ کوئ .

او نه هم د دي کار اجازه شته .! 💯

موږ دا کتابونه خاص د الله ﷻ د رضا لپاره PDF کوو بس .!

او دا کار چي تاسو یې کوئ ډیر غټه ګناه ده .! 🥹 💯

په درنښت ﴿ paktekawalAfghan ﴾

## دا کتاب دې د ﴿ paktekawalAfghan ﴾ لخوا

## ټولو ویدو مسلمانانو ته ډالۍ وي .!

بسم الله الرحمن الرحيم


دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون درسره وڅارئ .

زموږ د ټلیګرام چینل لینک
https://t.me/paktekawalafghan/7

زموږ فیسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan

# د لوړ سالمه روژنه

لیکوال: شیخ عبدالمالک بن محمد بن عبدالرحمن القاسم
ژباړن: سید معصوم الله عاصم

کابل؛ ۱۴۴۵هـ ق/۲۰۲۴

RAHMANI
LIBRARY
رحمـــــــاني کتابتون

## کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** د لور سالمه روزنه

**عربي نوم:** (لمحات في تربيت البنات)

**ليکوال:** شيخ عبدالملك بن محمد بن عبدالرحمن القاسم

**ژباړن:** سيد معصوم الله عاصم

**ډيزاين:** انجينر محمد افضل ذاکر

**چاپ کال:** [illegible] هـ.ق/[illegible]

**چاپ [illegible]:** [illegible]

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**خپرندوی:** حکمت خپرندویه ټولنه- کابل

دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره
او نويو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون درسره وڅارئ .
زمونږ د ټليګرام چينل لينک
https://t.me/paktekawalafghan/7
زمونږ فيسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan

د چاپ حقوق له خپرندويې [illegible] سره خوندي دي.

: جاده ميوند، سر چوک، زير زميني عمر علي پلازه- کابل.
: ۰۷۷۴۴۹۵۸۶۵/ ۰۷۸۴۰۷۵۰۶۶
Hikmatbook۲۰۱۰@gmail.com :

# ډالۍ

- خپلو محترمو والدینو، ارواښاد نیکه او ارواښادې نیا تـه چې د دعاګانو په برکت یې په هره سختۍ کې کامیاب شوی یم.
- پر حجاب مېینو مسلمانو دعوتګرو خویندو تـه چې د معاصرو فتنو په مقابل کې یې تل مبارزه کړې او د کفر شوم پلانونه یې شنډ کړي دي.
- ټولو مبارزینو او د قلم خاوندانو تـه چې د هرې کفري دسیسې مخه یې د قلم په مټ نیولې ده.

په درنښت

«عاصم»

# د ژباړن سریزه

## نحمده ونصلی علی رسوله الکریم وبعد!

د اسلامي دین خدمت، ساتنه او د اسلام مبارک دین ته دعوت، تبلیغ او خلکو ته یې رسول د هر مسلمان وجیبه ده، هرڅوک به د خپل توان مطابق د دې مبارک دین خدمت کوي. د اسلام د مبارک دین د حفاظت او خلکو ته یې د رسولو یوه غوره وسیله کتابت او لیکنه ده، چې د اسلام بچیان به د هر وخت او عصر مطابق د اسلام سپېڅلي دین د پرمختګ او ټینګښت لپاره خپل قلم جاري ساتي او خپله مبارزه به کوي. دا چې په اوسني عصر- کې زموږ په ټولنه بلکې په هره ټولنه کې د مسلمانانو اولادونه د دیني ارزښتونو څخه غافله او بې خبره دي او د اسلامي تربیې سره یې فاصله نیولې، غربي دیموکراسۍ او فکري جګړې دومره ځپلي چې حتی د خپل مبارک دین د مقدساتو او اسلامي ارزښتونو څخه بې خبره دي، حتی په خپلو اسلامي ارزښتونو ملنډې وهي؛ له بلې خوا په ټولنه کې والدین او مشران د اولادونو او کشرانو د سالمې تربیې څخه غافل او نا خبره دي، د مادیاتو محبت د خپلو اولادنو د اخروي ژوند او نېکمرغیو څخه غافله کړي دي، همدا باعث دي چې اکثره اولادونه او کشران د اسلامي تربیې څخه محروم او بې برخې دي. په افغاني ټولنه کې اکثره خلک د خپلو اولادنو خصوصا د لورانو د تربیې څخه بې خبره دي، دې حالاتو ته په کتو د خپل اسلامي احساس پر بناء پدې کوښښ کې شوم ترڅو د ماشومانو او کوچنیو اولادونو خصوصا د نجونو د تربیې، سالمې روزنې او ښه کنترول لپاره ټولنې ته په لیکلي بڼه داسې یو څه وړاندې کړم چې زموږ د اولادونو د بدبختیو څخه د خلاصون سبب شي او کشران مو په راتلونکي کې د

اسلامي صف حقيقي خادمان او سپاهيان جوړ شي.

د خپلې پلټنې په نتيجه کې وتوانيدم چې د ستر ديني عالم او غوره شخصيت عبدالملک بن محمد بن عبدالرحمن القاسم رساله چې د (لمحات في تربية البنات) په نامه ده، د خپلو نېکو ملګرو او خپلو کاکا ګانو هر يو مفتي صاحب سيد زين الله حنفي او پوهنيار سيد حيات الله حيدري په همکارۍ ترجمه کړم او چاپ ته يې وسپارم.

د رسالې د ژباړې تر څنګ مې احاديث د احاديثو د اصلي مصادرو څخه تخريج کړل، تر ډېره حده مې د علماء کرامو د اقوالو حوالې هم ذکر کړې ځکه شيخ عبدالملک بن محمد بن عبدالرحمن القاسم رحمه الله د احاديثو تخريج او د علماء کرامو د اقوالو حوالې ندي ذکر کړې.

ما په دې ترجمه کې د زياد دقت او فکر څخه کار اخيستى او د ضرورت په وخت کې مې د مشرانو استادانو څخه د همکارۍ غوښتنه کړې ده، اميد لرم چې الله پاک دا ناچيز عمل را څخه قبول او ټولنې ته د خدمت سبب وګرځوي.

دا چې انسان عاجز دی، د سهوې او خطاء څخه خالي نه وي نو که زما په ليکنه کې کوم ځای اشتباه او غلطي موجوده وي هيله مو دا ده چې لوستونکي يې راته په ګوته کړي دا به مو راسره ستر احسان او مرسته وي.

په آخر کې ټول مسلمه امت ته د الله پاک په دربار کې د سعادت غوښتونکی يم او هغه کسان چې زما سره يې پدې ليکنه کې هر نوعه مرسته کړې که مادي وي او که معنوي مننه ترې کوم او د الله تعالى څخه ورته د دنيا او آخرت د سعادت او نيمکرغۍ غوښتونکی يم.

## پر کتاب یو څو کرښې

الحمد لله الذی خلق السماوات والارض والختلاف الیل والنهار وخلق الجنة عرضهاالسماوات والارض اعدت للمتقین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین و خاتم النبیین وعلی آله وصحبه أئمة الهدی ومصابیح الحیاة، ورضی الله تبارک وتعالی عن أئمة الاجتهاد من السلف الصالح صحباً وتابعین، وتابعیهم باحسان الی یوم الدین.

دا ښکلی کتاب (د لور سالمه روزنه) چي ژباړه يې ګران ورور سید معصوم الله عاصم صاحب کړېده ، یو هیښونکی، ګټور، اړ او وړ کتاب دی، دا کتاب یو علمي او اکاډمیک کتاب دی، په دې کتاب کي په مجموع کي د اولاد د تربیت او په ځانګړي ډول سره د صالحې لور د تربیت او روزنې لارې چارې راټولي سویدي، لیکوال په ډېر مهارت اوظرافت سره مبارک آیاتونه، احادیث او نور معلومات راغونډ کړیدي، د کتاب سبک او طریقه ساده او داسي لاربښوونې پکښې راوړل سویدي چي ډېرې اسانه او عملي کول يې د هر چا د توان او طاقت کار دی، د کتاب بطن او متن يې د ملغلرو په شان پېودلی دی.

د ځوان تکړه لیکوال او ژباړونکي سید معصوم الله عاصم دي جنت ځای سي، ژباړه يې ساده او له مفهوم څخه ډکه ده، له داسي کتابو څخه هر ورور او خور استفاده کولای سي، زما په نظر عاصم صاحب دغه ښکلی کتاب وړ او اړ بولم، د ټولنې هر قشر باید استفاده ورڅخه وکړي او له نورو سره يې شریک کړي، هر څوک باید کوښښ وکړي چي د اخروي ثواب د لاسته راوړلو لپاره داسي کتابونه پخپلو کتابتونو کي ضرور ولري.

و عاصم صاحب ته اوږد عمر غواړم، د لانور خدمت په هیله، لوی خدای ﷻ دې وکړي چې دغه ځوان با احساسه تل د اسلام خدمت ستر عبادت وګڼي او زموږ د ټولنې دا ځوانه طبقه د نېکمرغۍ، سوکالۍ او خوښۍ و ساحل ته سوق کړي.

ستاسو ورور

عبدالغفار جُبیر- ۱٤٤۳، ۲۷، شعبان

## تقريظ

الحمد لله، الحمد لله الأجل الأكرم في علاه، له من الحمد أسماه، ومن الشكر منتهاه، فلا توافى نعم ربنا ولا تكافأ عطاياه، جعل الأولاد عند أهليهم وديعة، وجعل القيام عليهم واجبا علينا وشريعة؛ ليعلم الله من يتقيه فيهم فَحَقَّ علينا أن نطيعه.

أشهد ألا إله إلا الله وحده لا شريك له، جعل المال والبنين زينة الحياة، وعملا صالحا باقيا بعد الوفاة، وأشهد أن محمدا عبد الله ورسوله ومصطفاه، أكرم والد درجت على الأرض خُطَاه، وخير أب فاضت بالمشاعر حناياه، صلى الله وسلم وبارك عليه وعلى بناته وبنينه، وصلى على أزواجه وأصحابه وتابعيه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

اما بعد؛

رسول اللهﷺ په خپل يو مبارک قول کې فرمايلي: چې الله تعالی د محمدي دين د بڼ د تازه کولو لپاره نوي او تازه نيالګي راټوکوي، يعنې تل به د اسلام مبارک دين لپاره په هر وخت کې خادمان پيدا کيږي، چې تر هر څه به ورته د دين زده کړه، رسول او عمل ورباندي مهم وي، چې د يادو ځوانو خادمانو له جملې څخه زموږ خوږ ملګری محترم سيد معصوم الله عاصم دی، چې رب العزت لوی استعداد او د سترو وړتياوو ملکه ورکړې ده، عاصم صاحب تل د خپلو همزولو منځ کې د ستوري په شان ځلېدلی دی او کله چې د ننګرهار پوهنتون څخه په (۱۴۰۰ لمريز کال) فارغېدی د خپلې پوهنځی او پوهنتون په

کچه یې لوړې مقام خپل کړ، چې خپلي کورنۍ، استادانو، ملګرو او خپلوانو ته ستر ویاړ او لویه خوښي وبخښله.

د عاصم صاحب د پرمختګ یو لامل دا دی، چې تل یې د کتاب سره نه بېلېدونکې ملګرتیا وي، چې په فراق سره یې سخت ځوریږي او وصال ته یې د تږي کس په شان لېواله وي.

ښاغلي عاصم د خپل دیني مسؤلیت او ولس ته د خدمت وړاندې کولو په پار قلم اوچت کړی، چې له برکت څخه یې دا زرین کتاب (د لور ساله روزنه) کتاب ژباړه چاپ او ستاسو لاسونو ته در ورسېده.

یاد کتاب د ټولني د یوې داسي با ارزښته راتلونکې قشر د تربیې په موخه لیکل سوی دی، چې د یاد قشر اصلاح د مکملي ټولني د اصلاح سبب کیږي، خو البته زموږ ټولنه ددې قشر له روزني او اهمیت ورکولو څخه ډېره لیري پاتي ده.

که څه هم د پیغمبر اکرمﷺ د نبوت په ظهور سره د نړۍ څخه ستر جهالت ختم سو، چې په زړونو یې داسي مهر لګېدلی وو خپل د زړونو ټوټې او معصومي لوڼي به یې ژوندۍ ښخولې.

خو بدبختاته چې زموږ ټولني کي که ژوندۍ لوڼي نه وژل کیږي، خو په علمي او تربیوي لحاظه ډېر له زده کړو څخه لیري پاتي وي، حتی د اسلام له فرائضو څخه ناخبره وي او په بنیادي ارکانونو یې لا هیڅ علم نه وي.

که نبوي دور ته سر ورښکاره کړو، نو دا به راته جوته سي چې د اسلام په ظهور سره ښځي څومره وځلېدلې، چې ډېرې بېلا بېلو برخو کي یې د لویو لویو کارنامو شاهدان یو، د مثال په توګه ام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنها چې (۲۲۱۰) احادیث یې روایت کړي دي او لوی لوی صحابه کرام به د دیني احکامو د پوښتني لپاره ورته راتلل، چې دا ټول د سالمي روزني برکت وو، ځکه عائشه رضي الله عنها د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په شان پلار، د نبي کریمﷺ په شان خاوند او

عبدالرحمن په شان ورور ښخه برخمنه وه، چې هغوی ددې رضي الله عنه په روزني او علمي ترقۍ کې پوره زحتمونه گاللي وه، چې بالاخره ام المؤمنين او يوه لويه ستره عالمه ترې جوړه سوه او نورو برخو کې هم مسلماني ښځې د سترو کارنامو مخترعين پاتې سوي دي.

قدرمنو لوستونکو! ياد کتاب که ځان کي د حقيقي او مسلمان پلار او مور جوړېدو په موخه مطالعه سي، بيا به په رښتوني توگه به مو کورنۍ او ټولني ته داسي اولاد وړاندي کړې وي، چې د صدقه جاريه کټگوريو کي راته شمېرل کيږي او د دارينو د خوښۍ، بريا او سرلوړۍ لامل به راته گرځي.

نور تاسو او کتاب سره پرېږدم.

په پوره درنښت

عبد الرحيم راشد

۱۷/ شعبان المعظم/ ۱۴۴۵ سپوږميز

# د ليکوال خبرې

الحمـد لله رب العـالمين، والصـلاة والسـلام على نبينـا محمـد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

وبعد:

تل بهترين پلار او غوره مور د خپلو لورگانو پـه اسلامي پالنـه چې د دوی غاړه پرې خلاصيږي، حرص کوي، نو په داسې روزنه به لـور د سترگو يخوالی وي، مور او پلار بـه د دنيـا او آخرت پـه ژوند کې بهترين سرلاري گرځي، لورگانې به د زړونو ټوټې او د نفسونو سوچه والی وي.

دا چې د لورگانو د پالنې په هکله کومه ليکنه شوې، سره لـه دې چې زياتـه ارزښتناکه موضوع ده، له همدې کبله زما د قلم ليکنه پـه قرآن کريم او نبوي احاديثو باندې منوره شوه، نـو ځينې مختصرې توصيې، او د څه نظرياتو او توجيهاتو يادښتونه مې وليکل.

الله تعالى ته اميد دی، چې په دې ليکنه سره لوستونکو ته گټه ورسيږي.

زما د ليکنې مخاطبين په مساوي ډول مور او پلار دي او هر يوه تـه د دوی د حال او توان مطابق خطاب شوی دی.

د الله ﷻ څخه غوښتنه کوم چې زموږ نيتونه او اولادونه صالح وگرځوي.

په درنښت

عبد الملک بن محمد بن عبد الرحمن القاسم

# لړلیک


* سریزه................ ۱
* د الله تعالی په ورکړه شکر ایستل............... ۹
* د ماشوم په زړه کې د الله تعالی د بندګۍ تصور پیدا کول ........ ۱۲
* اولاد ته تربیت ورکول عبادت دی ....................... ۱۳
* د پالنې او روزنې په نیت کې اخلاص ...................... ۱۴
* روزونکی باید ښه نیت ولري ........................... ۱۵
* د تربیت په وخت کې اولاد ته دعاء کول ................. ۱۶
* د ډېرو لویو خطاګانو څخه ........................... ۱۶
* مور او پلار باید حلال کسب وکړي او له شبهاتو ځان وساتي ... ۱۷
* په کور کې مور او پلار باید علمي او عملي حلقې جوړې کړي... ۱۷
* روزونکی باید د سمې رهبرۍ خاوند وي ..................... ۱۸
* ددیني کارونو د لا ښه والي لپاره دنیوي کارونو ته هم پاملرنه ... ۲۰
* روزونکی باید له بې صبرۍ او غوسې څخه ځان وساتي .......... ۲۰
* عباداتو په ځانګړي ډول لمانځه ته پاملرنه .................. ۲۲
* د ماشوم ځینو ځانګړنو ته باید پاملرنه وشي ................. ۲٤
* د کوچنیانو په زړه کې د الله تعالی لویي او محبت ځایول ........ ۲۵
* په ماشوم باندې له غوسه کېدلو ډډه کول ..................... ۲۷
* ماشوم له فتنو او شر څخه ساتل ............................ ۲۷
* د حیاء، عاجزي او له نامحرمو سره د تُندې رویې تربیه ورکول... ۲۹
* ښو کارونو ته هڅول.................. ۳۱
* لورګانو ته په خبرو کولو کې وخت ورکول.............. ۳۲

* د علم، عمل، او ښې پالنې طرفته هڅوونکي امکانات برابرول .. ۳۳
* مور او پلار باید خپلو بچیانو ته وخت ورکړي.................. ۳۳
* لور ته د زوی څخه زیاته مینه او محبت ورکول .............. ۳٤
* له ټولنیزو شبکو څخه اولادونه ساتل.......................... ۳٦
* د لور لپاره سیال او برابر خاوند غوره کول...................... ۳۷
* له ناروا او نامناسبو ځایونو څخه د لور او اولاد ساتل ............ ۳۸
* لور ته د کور په کارونو کې وړتیا (مهارت) یادول ............... ۳۸
* د روزنې په بدل کې له الله تعالی څخه د بدلې غوښتل .......... ۳۹
* مور او پلار باید د خپل اولاد څارنه وکړي......................... ٤۲
* مور او پلار باید خپل ټول شرعي مسؤلیتونه وپېژني .............. ٤۳
* په عامو حالاتو کې د نارینه او ښځینه اولاد تر منځ برابرښت ..... ٤۳
* خپلې لورګانې په دیني حلقو کې داخلول ........................ ٤٦
* د حجاب په اړه لورګانو ته کلکې سپارښتنې کول.................. ٤٦
* په روزنې او پالنې سره خپل مسؤلیت اداء کول...................... ٤۷
* مأخذونه......................................................... ٥۱

## سریزه

**عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ-أي بنتين-حَتَّى تَبْلُغَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ[١].**

**ژباړه:** له حضرت انس بن مالک ﷺ څخه روایت دی، چې ویلي یې دي: نبي کریم ﷺ فرمایلي: چا چې د دوه لورګانو تر بلوغ ته رسېدنې پورې پالنه وکړه او د هغوی تکلیف یې په غاړه واخیست، نو دا سړی به د قیامت په ورځ داسې راشي چې زه او هغه به لکه د لاس دوه ګوتې داسې یو او خپلې دواړه ګوتې یې پیوست کړې.

ابن بطال وایي: هغه څوک چې دا حدیث شریف واوري په هغه لازمه ده چې عمل پرې وکړي ترڅو چې په جنت کې د رسول الله ﷺ ملګری شي، په آخرت کې تر دې غوره مقام نشته.

**وروى البخاري ومسلم والترمذي أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ ﷺ قَالَتْ: جَاءَتْنِي امْرَأَةٌ، وَمَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا، فَسَأَلَتْنِي فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ، فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا، فَأَخَذَتْهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا، وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا شَيْئًا، ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ وَابْنَتَاهَا، فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ ﷺ فَحَدَّثْتُهُ حَدِيثَهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «مَنِ ابْتُلِيَ مِنَ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ، فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ»[٢].**

**ژباړه:** له حضرت عائشې ﷺ څخه روایت دی چې ما ته یوه ښځه راغله او

---

١- مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: ٢٦١هـ) صحيح مسلم، بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ ج ٤ ص ٢٠٢٧، المحقق: مجموعة من المحققين، الناشر: دار الجيل - بيروت، الطبعة: مصورة من الطبعة التركية المطبوعة في استانبول سنة ١٣٣٤ هـ.

٢- صحيح مسلم، بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ ج ٤ ص ٢٠٢٧.

دوه لورګانې ورسره وې، نو سوال يې کاوه، زما سره د يوې خرما پرته بل شی نه وو، دغه خرما مې ښځې ته ورکړه، هغې دا خرما د خپلو لورګانو تر منځ تقسیم کړه، په خپله يې هيڅ شی ونه خوړل، بيا پورته شوه او ووتله، نو رسول الله ﷺ موږ ته راننوت، په ياده پېښه مې خبر کړ، رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په دې لورګانو سره په يو څه وازمايل شو او نېکي يې ورسره وکړه، نو دا لورګانې به د هغه لپاره له اور نه پرده وګرځي.

**وفي رواية لمسلم قال: «إِنَّ اللهَ قَدْ أَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ، أَوْ أَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ»[١].**

**ژباړه:** د مسلم شريف په روايت کې راغلي: بېشکه الله تعالی دې ښځې ته جنت واجب کړ، يا داسې راغلي چې الله تعالی دا ښځه د لورګانو په واسطه له اوره خلاصه کړه.

ابن حجر رحمه الله فرمايي: علماوو د امتحان په مراد کې اختلاف کړی چې آيا دا ازموينه يوازې د هغوی شتون او موجوديت دی؟ يا هغه څه دي چې له دوی سره يې تر سره کوي.

امام النووي رحمه الله ويلي: د هغوی پالنه يې امتحان بللی؛ ځکه خلک د عادت له مخې لورګانې بدې ګڼي، خو شريعت له دې کار څخه منع کړې او د دوی په شتون يې خلک تشويق کړل، همدا راز شريعت يې وژنه هم منعه کړې او څوک چې ښه ورسره کوي د هغوی سره يې د ټاکلي ثواب وعده کړې؛ ځکه هر څوک بايد د لورګانو په شتون له خپل نفس سره جهاد وکړي.

**وروى أبو داود والترمذي عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ أَوِ ابْنَتَانِ أَوْ أُخْتَانِ فَأَحْسَنَ صُحْبَتَهُنَّ**

---

١- صحيح مسلم: مرجع بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ ج ۴ ص ۲۰۲۷.

**وَاتَّقَى اللَّهَ فِيهِنَّ فَلَهُ الجَنَّةُ»**[۱].

**ژباړه:** امام ابو داود او امام الترمذي رحمهما الله له حضرت ابو سعيد الخدريﷺ څخه روايت نقل کړی دی، چې رسول اللهﷺ فرمايلي: د چا چې درې لورګانې او يا درې خويندې وي، يا د چا چې دوې لورګانې يا دوې خويندې وي، نو له هغوی سره ښه چلند وکړي او له الله تعالی څخه د دوی په حق کې وويرېږي، اللهﷻ به دغه کس ته جنت ورکړي.

**وفي رواية أبي داود قال: «من عال ثلاث بنات أو ثلاث أخوات أو أختين أو بنتين، فأدبهن وأحسن إليهن وزوجهن فله الجنة»**[۲].

**ژباړه:** او د ابو داود شريف په روايت کې يې فرمايلي: د چا چې درې لورګانې، يا درې خويندې، يا دوه خويندې او دوه لورګانې وي، د هغوی ښه پالنه او ښه چلند ورسره وکړي او واده يې کړي، د داسې کس لپاره جنت دی.

**وفي رواية: «مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ أَوْ ابْنَتَانِ أَوْ أُخْتَانِ فَأَحْسَنَ صُحْبَتَهُنَّ وَاتَّقَى اللَّهَ فِيهِنَّ فَلَهُ الجَنَّةُ»**[۳].

**ژباړه:** په يو روايت کې راغلي: د چا چې درې لورګانې يا درې خويندې وي، يا دوه لورګانې، يا دوه خويندې وي، نو ښه پالنه يې وکړي او په حق کې يې له الله تعالی څخه وويرېږي، د داسې کس لپاره جنت دی.

---

۱- محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك الترمذي، أبو عيسى، (المتوفى: ۲۷۹هـ) سنن الترمذي ۳ ج بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّفَقَةِ عَلَى البَنَاتِ وَالأَخَوَاتِ ص ۳۲۰، تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر (جـ ۱، ۲) و محمد فؤاد عبد الباقي (جـ ۳)وإبراهيم عطوة عوض الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر الطبعة: الثانية، ۱۳۹۵ هـ - ۱۹۷۵ م.

۲- أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: ۲۷۵هـ): سنن أبي داود، باب في فضل من عال يتيما ج ۷ ص ۴۵۹. المحقق: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، الناشر: دار الرسالة العالمية،الطبعة: الأولى، ۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م.

۳- سنن ترمذي باب ماجاء في الصدقة على البنات و الأخوات ج ۴ ص ۳۲۰.

**و روى الإمام أحمد عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: «مَـنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ، فَصَبَرَ عَلَى لأَوَائِهِنَّ، وعلى ضَرَّائِهِنَّ دخل الجنة»**[١].

**ژباړه:** امام احمد رحمة الله عليه له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخـه روايت نقل کړي، چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د چا چې درې لورگـاني وي او د هغوی په سختيو او تکليف صبر وکړي، نو جنت ته به داخل شي.

**وفي رواية: فقال رجل: يا رسول الله، واثنتين؟ قال: «واثنتـين»، قـال: يـا رسول الله، وواحدة؟ قال: «وواحدة»**[٢].

**ژباړه:** او په يو روايت کې راغلي: يو کس وويل: اې د الله رسوله! کـه دوې لورگانې ولري؟ رسول الله وفرمايل: هو! که دوې لورگاني هـم ولـري، هغـه بيا وويل: که يوه لور ولري؟ نو رسول الله وفرمايل: هو! که يوه هم وي.

**و روى الإمام أحمد عن عقبة بـن عامـر الجهـني قـال: سـمعت رسـول الله ﷺ يقول «مَنْ كَانَتْ وَقَالَ مَرَّةً مَـنْ كَانَ لَهُ ثَـلَاثُ بَنَـاتٍ فَصَـبَرَ عَلَـيْهِنَّ فَأَطْعَمَهُنَّ وَسَقَاهُنَّ وَكَسَاهُنَّ مِنْ جِدَتِهِ كُنَّ لَهُ حِجَابًا مِنَ النَّارِ»**[٣].

**ژباړه:** همدا راز امام احمد رحمه الله له عقبه بن عامر الجهني رضي الله عنه څخه روايت نقل کړی، چې ويلي يې دي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېـدل، چـې فرمايـل يې: د چا چې وي، يو ځل يـې وويـل: د چـا چـې درې لورگـانې وي د دوی پـه تکليفونو صبر وکړي، خوراک او څښاک ورکړي، د خپل توان وړ جامه ورکړي، نو دا به د قيامت په ورځ د ده لپاره له اور څخه پرده شي.

---

١- أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: ٢٤١ هـ)مسند أحمد بن حنبل، مسند ابي هريرة ج ٣ ص ٢١٧٦ المحقق: مكتب البحوث بجمعية المكنز الناشر: جمعية المكنز الإسلامي. الطبعة: الأولى، ١٤٣١ هجرية، ٢٠١٠ م.عدد الأجزاء: ١٢.

٢- مخکې مرجع مسند ابي هريرة ج ٢ ص ٣٣٥.

٣- مسند أحمد بن حنبل، ج ٤ ص ١٥٤.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده أمَّا بعد:**

بېشکه د الله تعالی نعمتونه او ورکړه نه حسابېږي، چې د الله تعالی لـه غټـو او ښکاره نعمتونو څخه یو نعمت اولاد دی الله تعالی فرمایلي دي:

**﴿الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾**[الكهف: ٤٦]

**ژباړه:** دغه مال او اولادونه یوازې د دنیوي ژوندانه یوه مؤقتي ښکلا ده.

د دغه نعمت په لوی والي هغه څوک پوهېږي، چې ورڅخه محروم وي، تـه به محروم کسان وینې چې د دغه مصیبت د لرې کولو په پلټنه کې خپل وخـت او مال مصرفوي.

دغه لوی نعمت یو امانت او مسؤلیت دی، د قیامت په ورځ به له مـور او پـلار څخه د دغه نعمت پوښتنه کېږي چې دا نعمت یې ساتلی، که یې ضایع کړی؟

د اولاد ډول او ښایست له دین او ښه اخلاقو پرته پر بل څه نه پوره کېـږي، که چیرې دین او ښایسته اخلاق ونه لري نو په دنیا او آخرت کې د مور او پـلار لپاره وبال او ضرر دی.

**يقول الرسولﷺ «كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَـنْ رَعِيَّتِـهِ، الإِمَـامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»**[1].

**ژباړه:** نبي کریمﷺ فرمایي: هر یو ستاسو مشر یـا د یـو څـه ذمـه دار دی او هر یو د خپل رعیت (ترلاس لاندې کسانو او ښځونـو) مسؤل دی، امـام مشـر

---

[1]- محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول اللهﷺ وسننه وأيامه = صحيح البخاري باب الجمعـة في القـرى والمدن ج٢ص ١٥، المحقـق: محمـد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة تـرقيم تـرقيم محمـد فؤاد عبد الباقي) الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ .

دی او د خپل لاس لاندې کسانو مسؤل دی، سړی د خپل کور مـشر دی او د خپل واک لاندې کسانو اړوند مسؤل دی.

دا رعیت(تر لاس لاندې) امانت دی، الله ﷻ هغه څوک وېرولي چې ضایع کوي یې او په حق کې یې کمی کوي.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّا عَرَضْنَا الأَمَانَةَ عَلَى السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الإِنْسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولاً﴾[الأحزاب: ٧٢].

**ژباړه:** موږ چې دغه امانت آسمانانو، ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ نو هغوی یې پورته کولو ته تیار نه شول، ورځخه ووېرېدل، خو انسان هغه پورته کړ، بېشکه دغه (انسان) غټ ظالم او جاهل دی.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا﴾[التحریم: ٦].

**ژباړه:** اې مؤمنانو خپل ځانونه، خپل اولادونه او کورنۍ له اور ځخه وژغورئ.

امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: چا چې د خپـل اولاد پـه تعلیـم کـې سستي وکړه، هغه تعلیم چې اولاد ته ګټور وي او خپل اولاد یې همداسې بې فایدې پرېږدي، یقینا چې له اندازې غټ زیان یې ورته ورسولو.

د ډېرو اولادونو بې لارې او فساد د پلرونـو لـه خـوا د سستۍ لـه کبلـه وي، داسې چې اولادونو ته د دین د فرائضو او سنتو تعلیم نه ورکوي، په کوچینوالي کې یې همداسې پرېږدي، چې بیا نه خپل ځان ته ګټه رسولای شي او نه چې لوی شي، خپلو پلرونو ته.

یقیناً چې پیغمبرانو د خپلو اولادونو په پالنه کې زیـات کوښـښ کـړی دی او په نشتون کې یې د هغوی د حالاتو پلټنه کوله.

د یعقوب علیه السلام چې کله د مرګ نښه رانیږدې شوه، له خپلو اولادونو ځخه یې

د داړه کېدلو په خاطر پوښتنه وکړه چې آیا د ده تر مرګ وروسته به په توحید روان وي کنه؟

یعقوب عليه السلام وفرمایل: ﴿مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي﴾[البقره:۱۳۳].

**ژباړه:** زما بچیانو زما څخه وروسته به د چا بندګي کوئ؟

د یعقوب عليه السلام سترګې یخې او روښانه شوې، کله یې چې ځواب ورکړ:

﴿قَالُوا نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾[البقرة:۱۳۳].

**ژباړه:** هغو ټولو په ځواب کې وویل: موږ به د هماغه یوه خدای بندګي کوو، چې هغه تا او ستا پلرونو، نیکونو، ابراهیم عليه السلام، اسماعیل عليه السلام او اسحق عليه السلام په خدایي منلی دی او موږ هماغه ته غاړه ایښودونکي یو.

او همدې ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام دواړو الله تعالی ته دعاء کوله او ورڅخه غوښتل یې:

﴿رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ﴾[البقرة:۱۲۸].

**ژباړه:** اې ربه! موږ دواړه تاته غاړه ایښودونکي وګرځوه، زموږ له ځوځات (اولادونو) څخه یو داسې قوم پیدا کړه چې تاته غاړه ایښودونکي وي.

او دا دعاء د ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام ده لکه څرنګه چې الله تعالی د خپلو بندګانو څخه خبرداری ورکوي: ﴿رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾[الفرقان:۷۴].

**ژباړه:** اې زموږ پروردګاره! موږ ته د خپلو مېرمنو او اولادنو څخه د سترګو رڼا راکړه او موږ د پرهېزګارانو امامان کړه ( په تقوی او اطاعت کې موږ تر ټولو مخکې کړه).

ابن کثیر رحمه الله فرمایلي دي: په شریعت کې په همدومره اندازه هڅونه شوې، نو له الله تعالی سره د پوره محبت له غوښتنو دا هم ده، چې سړی د یو الله

تعالی بنده گي کوونکی او له هغه سره د نه شریک نیوونکی اولاد خوښ کړي[۱].

پخواني علماء د خپل اولاد په پالنه زيات حريصان وو او دغه ستر مسؤليت ته يې اوږه ورکړې وه، له دې جملې څخه د عباسي خليفه منصور څخه نقل شوي، چې هغه د بني اميه بنديانو زندان ته يو څوک ولېږی، چې ورته ووايي: په زندان کې په تاسو کوم څېز ډېر سخت تېر شوی؟

دوی ورته وويل: زموږ څخه مو د اولادنو پالنه پاتې شوه.

ډېر د افسوس ځای دی، چې ځينې خلک له لورگانو پرته يوازې د نارينه اولاد په تربيه حرص کوي، هغوی دا هېره کړې چې امانت يو دی او د ټولو په حق کې پوښتنه کېږي.

او له دې څخه ناخبره دي، چې د نن ورځې لور د سبا ورځې مور ده، د هغه نه بې پروا شوي، هغه مور چې د الله ﷻ په ارادې سره به داسې څوک دنيا ته راوړي، چې الله ﷻ به په هغه د اسلام دين اوچتوي او د لور له پالنې د غفلت په صورت کې اسلامي ټولنې ته يوه لويه ضربه رسيږي.

موږ د پلارولی او مورولی له مخې داسې مشعلونو ته اړتيا لرو، چې د هغه په رڼا کې د پالنې په چارو کې گټه تر سره کېدای شي، له هغه جملې څخه:

---

۱- أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ۷۷٤ هـ) تفسير القرآن (تفسير ابن كثير) ج ۳ ص ٤۰۱، العظيم المحقق: محمود حسن الناشر: دار الفكر الطبعة: الطبعة الجديدة ۱٤۱٤ هـ/۱۹۹٤.

## د الله تعالی په ورکړه شکر ایستل

اول: برابره خبره ده، چې نارینه اولاد وي که ښځینه؛ ځکه الله تعالی نارینه او ښځینه دواړه اولادونه ورکوي او انسان په دې نه پوهېږي چې خیر او فایده چېرته ده، نو په مور او پلار لازم دي، چې د الله تعالی شکر اداء کړي او د لورګانو په بد ګڼلو کې د جاهلیت د خلکو پیروي ونه کړي، ځکه د هغوی بدي الله ﷻ په دې مبارک قول کې بیان کړې:

﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ * يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾[النحل:۵۸-۵۹].

**ژباړه:** کله چې له دوی څخه یو چاته د لور د زیږېدو زېری ورکول کېږي، نو مخ یې تور اوړي او هغه (د وینو غوړپ) تېروي، له خلکو څخه پټ ګرځي چې د دغه ناکاره خبر له اورېدو وروسته به څنګه له چا سره مخامخ شي، فکر کوي چې له شرم سره لور وساتي او که یې په خاورو کې ومنډي، وګورئ څومره ناوړه حکم دی چې دوی یې د خدای ﷻ په باب کوي.

رسول الله ﷺ فرمايلي: «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ كَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا: عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ، وَوَأْدَ الْبَنَاتِ، وَمَنْعَ وَهَاتِ»(۱).

**ژباړه:** بې شکه الله تعالی ستاسو لپاره درې شیان بد ګڼلي: د میندو آزارول، د لورانو ژوندي خښول او یو چاته د ورکړې له وسائلو څخه منعه کول.

---

۱- سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: ۳۶۰هـ) رواه الطبراني باب أبو محمد بن عبيد الله الثقفي، عن وراد ج۲۰ ص۳۹۷: المعجم الكبير المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي دار النشر: مكتبة ابن تيمية – القاهرة الطبعة: الثانيةعدد الأجزاء:۲۵.

**روى الإمام أحمد والطبراني عن عقبة بن عامر قال: قال رسول الله ﷺ: «لَا تُكْرِهُوا الْبَنَاتِ فَإِنَّهُنَّ الْمُؤْنِسَاتُ الْغَالِيَاتُ»**[۱].

**ژباړه:** امام احمد او امام طبراني رحمهما الله د عقبه بن عامر ﷺ څخه روايت کړی، چې ويلي يې دي: نبي کريم ﷺ فرمايلي:

تاسو لوراني بدې مه ګڼئ؛ ځکه چې دوی د ژوند ارزښتناکه ملګرې دي.

**وروى البخاري عن ابن عمر أن رجلاً عنده بنات، فتمنى موتهن، فغضب ابن عمر، فقال: «أنت ترزقهن؟»**[۲].

**ژباړه:** امام بخاري د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت نقل کړی، چې د يوه سړي لورګانې وې، چې د هغوی د مړينې هيله يې وکړه، ابن عمر رضي الله عنهما په غوسه شو او ورته يې ويل: آيا ته دوی ته روزي ورکوې؟

د فيصله کوونکو يوازيني فيصله کوونکي ويلي: ﴿**لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ، أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ**﴾[الشورى:۴۹-۵۰].

**ژباړه:** الله ﷻ د آسمانونو او ځمکې د پاچاهۍ مالک دی، څه چې وغواړي پيدا کوي يې، چاته يې چې خوښه شي لورګانې ورکوي، چاته يې خوښه شي زامن ورکوي.

او چاته يې چې خوښه شي زامن او لورګانې دواړه ورکوي او چاته يې چې خوښه شي شنډوي يې، هغه ته هر څه معلوم دي او په هر څه قادر دی.

اسحاق بن بشير ويلي: دا آيت شريف د پيغمبرانو په هکله نازل دی بيا عام

---

۱- مسند احمد، مسند الشامين ج۴ص۱۵۱.

۲- محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله (المتوفى: ۲۵۶ هـ) الأدب المفرد ج ۱ ص۶۲، المحقق: عصام موسى هادي، الناشر: دار الصديق - الجبيل - المملكة العربية السعودية الطبعة: الأولى، ۱۴۳۴ هـ - ۲۰۱۳ م.

شو، لوط عليه السلام د لورګانو پلار وو او نارينه اولاد يې پيدا نه شو، ابراهيم عليه السلام نارينه اولاد درلود، ښځينه اولاد يې نه وه او د نبي کريم ﷺ نارينه او ښځينه دواړه اولادونه وه او يحيى د زکريا عليهما السلام زوی بې اولاده وو.

امام ابن القيم رحمه الله تعالى په خپل کتاب احکام المولود کې وايي: الله تعالى د ښځې او خاوند حالت څلورو برخو ته ويشلی چې دغه څلورو برخو ته د اولاد وجود شامل دی، الله تعالى خبر ورکړی، چې څومره اندازه اولاد الله تعالى د والدينو په منځ کې ټاکلی، په هغه اندازه يې ورکوي، د بنده لپاره د الله قهر ته د ځان وړاندې کولو لپاره دا بسنه کوي، چې د الله ﷻ په ورکړه په غوسه شي.

صالح بن احمد ويلي دي: زما د پلار به چې کله لور پيدا شوه، ويل به يې: پيغمبران د لورګانو پلرونه وه او ويل به يې، په لورګانو کې داسې نجونې پيدا شوې چې زه مخکې نه پوهېدم.

او يعقوب بن ختان وايي: زما اوه لورګانې پيدا شوې، کله مې چې آخري لور پيدا شوه، نو امام احمد بن حنبل رحمه الله راغی او راته ويې ويل: اې د يوسف پلاره! پيغمبران د لورګانو پلرونه وه، چې پر دغه خبره زما پرېشاني ختمه شوه.

عبيد الله السعدي وايي: ماته خبر راورسېد، چې الله تعالى لورګانې خوښوي، لوط عليه السلام د لورګانو څښتن وو، شعيب عليه السلام د لورګانو خاوند وو او رسول الله ﷺ هم د لورګانو څښتن وو[۱].

د عاقلانو څخه يو عاقل د خپلې لور د ښه راغلاست لپاره وويل: ښه راغلاست: اې د ښځو سردارې! د اولادونو مورې! د خسرګنۍ جلبونکې! پر تا

---

۱- أبو بكر عبد الله بن محمد بن عبيد بن سفيان بن قيس البغدادي الأموي القرشي المعروف بابن أبي الدنيا (المتوفى: ۲۸۱ هـ) العيال ج ٤ ص ۹۲، طبع: ضمن الجزء الرابع من موسوعة ابن أبي الدنيا، المحقق: فاضل بن خلف الحمادة الرقي، الناشر: دار أطلس الخضراء - الرياض، الطبعة: الأولى، ۱٤۳۳ هـ - ۲۰۱۲ م.

پسې د منظمو ورونو او زيږېدونکو اولادونو زېرى وركونكې.

كه چېرته څوک په خپل شاوخوا كې فكر وكړي نو داسې خلک به ومومي، چې يوه لور به لري د سترګو يخوالى به يې وي، نفس به يې له خوښيو او نېكمرغيو ډک وي او د بل كس به زيات زامن وي، زامن به يې په يوه كنده كې وي او اولادونه به يې په بله كنده كې وي، چې له هغوى څخه به له بدبختۍ او ستړيا پرته بل څه نهويني.

## د ماشوم په زړه كې د الله تعالى د بندګۍ تصور پيدا كول

دويم: د كوچني اولاد په پالنه كې اصل دا دى، چې په زړونو كې يې د الله تعالى بندګي ځاى ونيسي، په زړونو كې يې د الله تعالى بندګي نيال شي او د الله تعالى له بندګۍ سر وتړل شي.

په مور باندې د الله ﷻ له نعمتونو څخه يو نعمت دا هم دى، چې بچيان مو د اسلام په دين پيدا كېږي، كوم چې د فطرت دين دى، نو اولاد فقط دې ته اړتيا لري چې د اسلام د سپېڅلي دين ساتنه وكړي او همېشه توجه ورته وكړي، تر څو د اسلام له دين څخه اوښتلى او لار وركى نه شي، چې پر دې سره به د مور او پلار لپاره د خير د لارښوونې له كبله اجر وي، لكه څرنګه چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: «**مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ**»[۱].

**ژباړه:** څوک چې د اجر لارښوونه وكړي، د هغه شخص لپاره دومره اجر دى لكه د كوونكي.

نو دا اولاد او هغه نسل چې له دوى څخه وروسته راځي، ټول د مور او پلار لپاره د نيكۍ په تله كې حسابيږي، خو په هغه صورت كې چې مور او پلار سمه اسلامي پالنه وركړي، ځكه فرعه د اصل تابع وي.

---

۱- صحيح مسلم ۳ ج ۱۵۰٦ ص.

## اولاد ته تربیت ورکول عبادت دی

درېیم: مور او پلار د اولاد د پالنې په وخت کې د الله په عبادت کې دي، چې عبارت دی له نفقه ورکولو، د اولاد سره شپه سبا کولو، هغوی ته پاملرنه کولو او د هغوی له تعلیم (پوهولو) څخه؛ بلکې د اولاد سره خوشحالي او ټوکې کول چې کله د ثواب په نیت وي، هم په عبادت کې حسابېږي؛ ځکه چې اصل د الله تعالی عبادت دی الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾[الذاریات: ٥٦].

**ژباړه:** ما پیریان او انسانان له دې پرته چې زما بندګي وکړي د بل څه کار لپاره نه دي پیدا کړي.

په اولاد باندې نفقه کول عبادت دی، لکه څرنګه چې نبي کریمﷺ فرمایلي دي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ «قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ»**[1].

**ژباړه:** یو دینار چې ته یې د الله تعالی په لاره کې مصرفوې، یو دینار چې ته یې د غلام آزادولو لپاره مصرفوې، یو دینار چې ته یې مسکین ته صدقه کوې او یو دینار چې ته یې په خپل اهل(کورنۍ) باندې مصرفوې، نو تر ټولو زیات اجر لرونکې هغه دینار دی، چې تا پخپل اهل او اولاد باندې مصرف کړی.

او نبي کریمﷺ فرمایلي دي:

---

[1]. صحیح مسلم ٢ج ٦٩٢ ص.

«إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ»[۱].

**ژباړه:** کله چې يو کس په خپل اولاد د ثواب په نيت باندې خرچه او مصرف وکړي، نو دا نفقه دې کس ته په صدقه کې حسابيږي.

يو شخص د شيخ ابن عثيمين رحمه الله څخه دغه پوښتنه وکړه:

زما څلور اولادونه دي، اراده لرم چې نور اولاد بس کړم او ځان د الله تعالی بنده ګۍ او پيروۍ ته خوشې کړم ستاسو نظر څه دی؟

نو ابن عثيمين رحمه الله تعالی ځواب ورکړ: بچيانو ته دې سمه پالنه ورکول عبادت دی.

يو له پخوانيو علماوو څخه زيات بنده ګي کونکی او د الله تعالی مناجات او ستاينې ته فارغ کس وو، هغه يو اولادار ته چې د ده د عبادت غبطه يې کوله، وويل: ستا ښايست او زړورتيا چې ستا د اولاد له کبله تاته حاصله ده، له هغه څه غوره ده، چې زه پکې يم.

## د پالنې او روزنې په نيت کې اخلاص

څلورم: د روزنې په چارو کې پاک نيت اړين دی، که د پالونکي نيت دنيا وي، نو اخلاص يې له منځه لاړ، ته به ځينې کسان وينې چې د اولاد په تعليم به حرص د دې لپاره کوي، چې منصب او اسناد تر لاسه کړي او په دې کې شک نشته، چې ښېګڼه په هغه تعليم کې ده، چې د الله تعالی د رضا لپاره وي او له دې پرته نور تعليم د شخص د نيت تابع دی، نو له همدې امله څوک چې دنيا غواړي په دنيوي تعليم باندې ټينګار کوي چې د اسلام او مسلمانانو له خدمت څخه خالي وي او بل هوښيار سړی د خپلې لور لپاره د سند او شهادتنامې کوښښ کوي، دا د مسلمانو ښځو د تعليم لپاره يو مثال دی، چې

---

۱. صحيح البخاري ۱ج ۲۰ص.

دغه تعلیم د لومړي سرې لپاره اجر او د هغه بل لپاره چې دنیوي غرض لري اجر نه دی.

په دې کار کې د نیت رول مهم دی، نیت د بچیانو د ښې پالنې او اصلاح سبب دی، نو هغه اولاد چې د الله لپاره وروزل شي، ښه وده کوي او لوییږي او کوم چې د دنیا لپاره وروزل شي، هغه کم او کمزوری وي حتی پناه کېږي.

ځینې پلرونه له خپلو بچیانو سره د دې په خاطر نېکي کوي چې خپل کوچنیان یې ووینې ترڅو له خپل مور او پلار سره چې لویان او زاړه شي همداسې عمل وکړي، چې پر دې عمل کې دنیوي محبت او د خواهشاتو پالنه ده، مګر مؤمن له خپل مور او پلار سره نېکي د هغه څه لپاره کوي کوم چې له الله ﷻ سره دي او د مور او پلار سره د الله تعالی د اطاعت په خاطر نېکي کوي، نه د دنیا او بالمثل عمل لپاره.

نو د همدې په خاطر مور او پلار د لور په پالنه باندې د دې لپاره حرص کوي چې بیا د مور او پلار سره ښه معامله وکړي، احترام یې وکړي، خدمت یې وکړي، نېکي ورسره وکړي، غوښتنې یې ومني او بیا خپلې لور ته دا ور زده کړي چې دا یاد اعمال عبادت او ثواب دی.

## روزونکی باید ښه نیت ولري

پینځم: په روزونکي لازم دي چې د پالنې په ټولو چارو کې ښه نیت ولري، تر څو د ثواب مستحق وګرځي، پالونکی اړ دی، چې اولاد ته په تعلیم ورکولو، نفقه ورکولو، ټوکو او ساعتېري، خوشحالي ورکولو او د اولاد په ناروغۍ باندې په صبر کولو کې باید د ثواب نیت ولري او خپل ځان باید د ثواب په نیت باندې عادت کړي او هر وخت د نیت تجدید وکړي.

## د تربیت په وخت کې اولاد ته دعاء کول

شپږم: دعاء عبادت دی، یقینا چې انبیاوو او رسولانو خپلو اولادونو او ښځو ته دعاوې کړې دي:

﴿رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ﴾[الفرقان: ۷۴].

**ژباړه:** اې زموږ پروردګاره! موږ ته له خپلو مېرمنو او اولادونو څخه د سترګو رڼا راکړه.

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَـذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ﴾[إبراهیم: ۳۵].

**ژباړه:** هغه وخت یاد کړه چې ابراهیمعليه السلام دعاء کړې وه: پروردګاره! دا (د مکې) ښار د امن ښار وګرځوه، ما او زما اولاد له بت پرستۍ څخه وساته.

او داسې نورې زیاتې دعاګانې هم په قرآن کریم کې شته دي، د ډېرو دعاګانو په سبب ګمراهانو ته هدایت شوی او ډېرو دعاګانو د تربیې لاره لنډه کړې.

د هغه وختونو پلټنه وکړه چې دعاء په کې قبلېږي، د هغه شیانو څخه لرې شه، چې د دعاء د قبولیت مخه نیسي، الله ته تضرع او عاجزي وکړه، د الله په وړاندې سر ټیټ کړه، چې اولاد ته دې هدایت وکړي او د شیطان څخه یې وساتي، ته له خپل کوښښ سربېره کمزوری او عمل دې کم دی.

## د ډېرو لویو خطاګانو څخه

خپل اولاد ته د هلاکت ښېرا کول او د سخت مصیبت غوښتل دي، نو ډېر ځله امکان لري چې دا ښېرا قبوله او همداسې واقع شي، نو په مور او پلار باندې لازم دي چې اولاد ته ښېرا ونه کړي بلکې دعاء ورته وکړي.

## مور او پلار باید حلال کسب وکړي او له شبهاتو ځان وساتي

اووم: په پلار لازم دي چې د حلال کسب په پلټنه کې حریص وي، له شبهاتو ځان وساتي، ترڅو په حرامو کې واقع نه شي؛ ځکه د نبي کریمﷺ څخه په صحیح روایت سره ثابت دي چې فرمایلي یې دي: **عن النبيﷺ أنه قال: «كل لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحتٍ إلا كانَتِ النَّارُ أَولى به»**[۱].

**ژباړه:** کومه غوښه چې په حرامو لویه شي، نو اور ډېر ورته غوره دی.

مور یا پلار دې دا ګمان نه کوي چې حرام فقط سود، غلا او رشوت دی، بلکې د وخت په ضایع کولو کې هم حرام شته (یعنې د وخت ضایع کول هم اولاد حرامي کوي) او له عوض پرته مال اخیستل هم حرام دي، ډېر د مدارسو کار کوونکي په خپل عمل او تدریس کې سستي کوي او تدریس ته له ټاکلي وخت څخه یو څو دقیقې وروسته ورځي، که چېرې دا دقیقې جمعه کړي نو ډېر ساعتونه به دې له ملګرو سره په خبرو، د مجلو او ورځپاڼو په لوستلو او تلیفوني خبرو ضایع کړې وي، نو هغه مزدوري چې د دغه وخت په مقابل کې یې اخلي ناروا ده؛ ځکه دا په ناحقه د مال اخیستل دي.

همدا راز په باطله طریقه د خلکو مال خوړل او د حقوقو هضم کول حرام دی.

نو اې مسلمانه وروره! له دې څخه ځان وساته چې خپله خېټه او د اولاد خېټه دې له حرامو څخه ډکه کړې، د لږ حلال مال پلټنه وکړه؛ ځکه په همدې کم حلال مال کې ډېر لوی برکت دی.

## په کور کې مور او پلار باید علمي او عملي حلقې جوړې کړي

اتم: دا اړینه ده، چې د یوه مسلمان په کور کې وخت په وخت یوه ایماني

---

۱- أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: ٤٣٠هـ) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء، ج٨ ص ٢٤٧،الناشر: السعادة - بجوار محافظة مصر، ١٣٩٤هـ - ١٩٧٤م.

ناسته او حلقه وي، دا حلقه دې له مازديګر يا ماخوستن لمانځـه وروسته جوړه کړي، پـه دې حلقـه کـې دې اولاد تـه د تفسـير مبـارک، حـديث شريـف او د سيرت يو يو کتاب تدريس شي.

مور دې کوښښ وکړي، چې هر وخت د لور په زړه کې د مسـلمانو او مؤمنو خويندو په ځانګړي ډول د امهـات المـؤمنين، صـحابياتو او نېکـو ښـځو د ژوند ځانګړې نمونې را ژوندۍ کړي، تر څو ورته تشويق شي او له خپلې لـور څخـه دې هغه څه لرې کړي چې د فساد سبب يې ګرځي، چې له هغه جملې څخه د کافرانو او فاجرانو نښې دي، (لکه د کفارو لبـاس، د صـليب علامـه او د کفـارو په عرف او عادت باندې اولاد لوی کړي...).

د ماشومې لپاره د تعليم لومړی ځای د مور غېږه ده چې خپلې کـوچنۍ لـور ته د الله ﷻ ذکر، ستاينه او په الله ﷻ باندې ثناء ويل اوروي.

## روزونکی بايد د سمې رهبرۍ خاوند وي

نهم: د روزنې د چارو لپاره نېکه رهبري او مشري اړينه ده، څرنګـه بـه لـور د لمانځه پابنده وي، پـه داسـې حـال کـې چـې مـور يـا پـلار يـې د لمانځـه ضايع کوونکي وي؟ همدا راز څرنګه به ساز او سرورد پرېـږدي، پـه داسـې حـال کـې چې مور يې تل ساز اورېدونکې وي؟

سره له دې کله مشران له غيبت، چغل خورۍ او درواغو څخه ځـان سـاتي، چې کشران بيا د دوی په لاره ځـي، د مـور او پـلار پـه اصـلاح سره پـه دنيـا او آخرت کې د اولاد ساتنه ده، مور او پلار دې د الله تعـالی پـدې قـول کـې فکـر وکړي: ﴿وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَنْ يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ﴾[الکهف: ۸۲].

**ژباړه:** د هغوی پلار يو ښه سړی وو، له دې امله ستا رب وغوښتل چې دغه

دواړه ماشومان د ځوانۍ عمر ته ورسېږي او خپله خزانه را وباسي، دا ستا د رب د رحمت پر اساس شوي دي.

په دې کې د پلار اصلاح له یرگ شخه څو کلونه وروسته اولاد ته شامله او عامه شوه، مگر تاته د خپل اولاد په زړه کې د اسلام د نیالولو او د اسلام په شعائرو د هغه د حرص اجر دی؛ ځکه نبي کریمﷺ فرمایلي دي: «**مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً، فَلَهُ أَجْرُهَا، وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ...**»[1].

**ژباړه:** څوک چې په اسلام کې د یوې نیکې لارې تهداب او بنیاد کېږدي، نو ده ته یې اجر ورکول کېږي او د هغه چا اجر هم ورکول کېږي، کوم چې له ده وروسته په همدې لاره روان وي.

ځینې میندې چې د لور په وجه په ازموینه کې اخته دي، هغه له کور څخه د زیات وتلو او په بازارونو کې د ډېر گرځېدلو له کبله دي، همدا راز زیات تگ راتگ او محفلونو ته ورتلل دي، نو د خپل توان مطابق دې په دې کارونو کې کموالی راولي، د خپل خاوند او اولاد کار ته دې ځان فارغ کړي.

که چېرې مور په زیات وتلو سره په امتحان کې واچول شي نو د خپلې لور لپاره په کور کې احتیاط کول اړین دي، مور ډېر اورېدلي، چې د غفلت او بې احتیاطۍ له امله سړی له شرمندگۍ سره مخ وي او په نامناسب ځای یې باور کړی وي.

یو شاعر وایي:

والأمهات إذا ما كن في سفه ... فاحكم على الجيل بأن النقص حاديه

**ژباړه:** په هغه وخت کې چې میندې په غفلت او بې پروایۍ کې وي نو ته د زمانې په خلکو حکم وکړه چې کمزوري پکې ساري ده.

---

[1]- صحیح مسلم ج۲ ص ۷۰٤.

د دې شعر مطلب دا دی کله چې میندې د اولاد په روزنه کې غفلت وکړي داسې دی، لکه د یوې پیړۍ درېیمه برخه اهل چې بې تربیې او ضعیف وي او منفي تأثیرات پکې وي.

## ددیني کارونو د لا ښه والي لپاره دنیوي کارونو ته هم پاملرنه کول

لسم: د تربیوي چارو د لاښه والي لپاره د دنیوي امورو د بارکیو درک کولو او پېژندلو ته پاملرنه وکړه، د اولاد په تربیه کې د هغه چا سره مشوره وکړه چې مصلح وي، د هغو لوازمو او کتابونو پلټنه وکړه چې د یو مسلمان ماشوم لپاره د اسلامي تربیې څخه خبرې کوي، د موټر اخیستل او خرڅول او برقي سامان آلات برابرول د اولاد له تربیې څخه مهم نه دي؛ ځکه ته هغه موټر او برقي سامان آلات غواړې چې ته یې وینې، بیا به ته د خپل زړه د راحت او لذت څخه (چې اولاد دی) غافل وې، د خپل اولاد د تربیې لپاه بده لاره مه غوره کوه.

حکمت او زیرکتیا دا ده: کله چې مور د کومې کورنۍ د اولاد ښه تربیه ووینې نو د هغه کورنۍ د اولاد د ښې تربیې د لارو چارو او وسائلو پوښتنه دې وکړي، چې د تربیې لارې چارې او وسائل یې کوم دي؟ مور کولای شي د هغه تربیوي امورو په هکله پوښتنه وکړي چې مشکل پکې لري.

## روزونکی باید له بې صبرۍ او غوسې څخه ځان وساتي

یوولسم: د اولاد په تربیه باندې صبر کول، چې له دې څخه ځینې خلک غافل شوي حال دا چې د اولاد په تربیه صبر کول د کامیابه تربیې له عواملو څخه شمېرل کېږي، په تاسو دواړو (مور او پلار) صبر لازم دی، مور او پلار دې د کوچني ماشوم په چیغو او ژړا صبر وکړي اونه دې ورته غوسه کېږي، په مرض یې دې صبر وکړي او د ثواب نیت د ولري، د کوچنیانو په هغه کارونو

صبر وکړئ چې د ښه او بد دواړو احتمال لري او مه وربانـدې سترې کيږئ، پلار دې په دې صبر وکړي چې خپلـه لـور لـرې کاميـابې او غـوره مدرسـې تـه بوزي چېرته چې کافي استاداني وي او ته پـه دې صبر وکـړه چې لـور تـه دې منتظر شې ترڅو له مدرسې څخه يې بېرتـه راولـې، خوشـحاله شـه؛ ځکـه تـه د جهاد په لاره کې يې الله تعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾[العنکبوت: ٦٩].

**ژباړه:** کوم کسان چې زموږ په خاطر مجاهده وکړي، هغو ته بـه مـوږ خپلـې لارې ور وښيو.

تاسو دواړه (مور او پلار) په تربيه ورکولـو بانـدې مـأمور ياسـت، لارښـوونه د الله ﷻ له لورې ده، تاسو اسباب مصـرف کړئ او صـبر وکـړئ، ژر ده تاسـو بـه داسې خير ووينئ، چې خوشحاله مو کړي او لاره مو د خوښۍ وړ وگرځي.

مور او پلار دې له موټروان سره د خپلې لور تگ بند کـړي؛ ځکـه د موټـوان او کوڅه گشتو هلکانو لخوا نجلۍ ته زيات مشکلات جوړېږي او مور د هـم لـه دې څخه ځان وساتي.

په يوه ماركيټ كې مې يوه خدمتگاره له يوې ماشومې سره په يوه مـوټر كـې وليده، ناڅاپه دې مارکيټ ته يو مـوټروان لـه يـوې انجلـۍ سره راغـی، چـې دا انجلۍ يې په غېږه کې نيولې وه، چې عمر يـې لـه اووه کلونـو څخـه زيـات وو، دې انجلۍ ته مې وويل: دا ستا پلار دی؟

هغې وويل: نه! ما ورته وويل: ته څنگه دې موټروان ته د دې اجازه ورکوې؟

زما په نظر والدينو موټروان لېږلی وو، چې لـه هغـه سره يـې ښـځه هـم وه، مگر تاسو وگورئ، په مارکيټ کې څه پېښ شول! نو په نورو ځايونو کې به څه حال وي؟

د دې کيسې مفهوم دا دی چې د موټروان سره يې خپله ښځه وه خو پـردۍ

انجلۍ يې په خپله غېږ کې کېنولې وه، خلکو داسې فکر کاوه چې دا يې لور ده حال دا چې لور يې نه وه، چې په يو تجارتي مارکيټ کې داسې پيښېږي نو په غير مشهورو ځايونو کې په څه حال وي؟

مور د خپلې لور داسې خدمتګارې ته نه سپاري چې هغه لمونځ نـه کـوي او د الله تعالی نافرماني کوي، يقينا چې ځينـې خلـک پـه تړلـې چټلـۍ او ګناه کې لوی شوي وي؛ ځکه دوی د بېکاره او نافرمانه خادمانو په لاس روزل شوي.

د نمونې په ډول يې ياد کړه! د پوهنتون يوه استاده چې عمر يـې زيات وه او تقاعد ته برابره وه، هره ورځ سهار او ماسپښين پوهنتون ته د خپلې لـور د راوستلو لپاره له موټروان سره راتله! قسم په الله کله چې د هغه صبر او له لور څخه يـې د نومورې ساتنه را ياده کړم، همېشه مې په هغه شفقت(مهرباني) راځي.

## عباداتو په ځانګړي ډول لمانځه ته پاملرنه

دولسم: لمونځ، لمونځ له شهادتينو (ايمان په الله او ايـمان پـه رسـول اللهﷺ) وروسته د لويو فرائضو له جملې او د اسلام دوهم اصل دی، پـه لمانځـه بانـدې کلک اوسه ترڅو دې لور ستا له کبله د لمانځـه اهميـت او لويـوالی درک کـړي، لمونځ هغه چاته آسانه دی چا ته يې چې الله جل جلاله آسانه کړي، د کوچني پـه تربيـه کې بايد مور او پلار د نبوي ادب لاره غـوره کـړي، لکـه څرنګـه چې امـام دار قطني رحمه الله روايت کړې دي، بېشکه نبي کريمﷺ فرمايلي دي:

«مُرُوا صِبْيَانَكُمْ بِالصَّلَاةِ لِسَبْعٍ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا لِعَشْرٍ»[۱].

---

۱- أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بـن دينـار البغدادي الـدارقطني (المتوفى: ۳۸۵هـ) سنن الدارقطني ج ۱ ص ٤۳۰، حققه وضبط نصه وعلـق عليـه: شعيب الارنؤوط، حسن عبد المنعم شلبي، عبد اللطيف حرز الله، أحمد برهوم، الناشر: مؤسسة الرسالة، بـيروت - لبنان الطبعة: الأولى، ۱٤۲٤ هـ - ۲۰۰٤ م.

**ژباړه:** په اوه کلنۍ کې مو اولاد ته په لمانځه امر وکړئ او په لس کلنۍ کې یې د لمانځه د پرېښودلو له امله ووهئ.

څوک چې دا حدیث شریف تطبیق کړي بیا به هېڅکله د لمانځه په هکله په ستړیا او سختۍ کې واقع نه شي، هوښیار پلار او هوښیاره مور د لمانځه په اوله مرحله کې اولاد ته جایزه ورکوي او لمانځه ته یې تشویقوي، د مثال پـه ډول: په جای نماز کې اولاد تـه حلـوا (خـواږه شـیان) او پیسـې ږدي، بیـا خپلـه لـور لمانځه ته راوغواړي او داسې ورته ووایي: لمونځ وکړه! الله به تاته پیسـې او رزق درکړي، نو ماشومه پدې باندې خوشحاله کېږي، همدا راز لـه تشـویقي کـارونو څخه ماشومې ته جای نماز اخیستل او د هغه ساتنې ته تشویقول دي، له هغـو وسائلو او لارو څخه چې ماشومه په لمانځه عادت کوي، دا دي چـې د لمانځـه د وختونو معلومول او مراعاتول ورته وسپارل شي، مور دې تل له خپلې لـور څخـه پوښتنه کوي چې آیا مؤذن آذان کړی؟ آذان ته څومره وخت پـاتې دی؟ ترڅـو د لور زړه له لمانځه سره وتړل شي.

امام ابن تیمیه رحمه الله ویلي: چا سره چې کوچنی غلام، یتیم یا کوچنی زوی وي او د لمانځه امر ورته ونه کړي نو ده لویه ګنـاه وکـړه او غـټ سـړي تـه بـه د لمانځـه پـه پرېښـودلو لویـه سـزا ورکـوي؛ ځکـه دې کـس د الله جل جلاله او د هغـه د رسول ﷺ نافرماني وکړه.

د تعجب خبره دا ده، چې د مکتب یا مدرسې د امتحانونو په وخت کې مـوږ په دې باندې توانېږو، چې په وختي خوب ځانونه عادت کـړو او تـر ډېـره ویښ پاته نه شو، ترڅو سهار وختي راویښ شو، خو د سهار لمانځـه تـه بـل وخـت پـه تیاري نیولو کې سستي او تنبلي کوو.

## د ماشوم ځينو ځانګړنو ته بايد پاملرنه وشي

ديارلسم: د کوچنيانو ځانکړي (قوتونه) او فردي ځانکړنې بايد مراعات شي، يعنې که ماشومان ذکي وي، هغوی ته بايـد د درس زياتـه زمينـه برابـره شي او کوم ماشومان چې ځو ځله تجربه شي، خـو د درس وړتيـا نـه لـري، هغـوی تـه بايد د يوه کسب زده کولو زمينه برابـره شي، لـه ماشـومانو سره پـه معاملـه کې عدل مهم دی، ځينې پلرونه د خپلو کوچنيانو له لوی ذهني قوت څخه بې پـروا وي او همداسې يې ضايع کوي.

ته به ځينې داسې کوچنيان ومومې چې هغوی اشعار، تبليغات او نـور داسې شيان چې هېڅ فايده نه لري يادوي، خـو د الله تعـالی کتـاب نـه يـادوي او نـه پاملرنه ورته کوي، دغه کسانو خپله سرمايه په داسې شي کې مصرف کړه چې فايده په کې نشته.

په اسلامي تاريخ کې ډېرې داسې ښځې را ښکاره شوې چې خپـل نـوم يـې په تاريخ کې ځلولی او روښانه کارنامې يې لرلې، د پوهه ښځو له جملې څخـه: فاطمه بنت رسول الله ﷺ، ام المؤمنين عائشه صـديقه،[1] ام المـؤمنين حفصـه او

---

۱- د ام المؤمنين حضرت بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها پر فضليت باندې څه نه ليکم خو صرف علميت تـه يې اشاره کوم، حضرت عائشه رضي الله عنها د ټول امت افقه، افصح او عالمه ښځه وه، پـه بيـروت کـې ددې د فقهې شريفې کتاب (فقه عائشه) چاپ شويدی، دا ځکه چې ام المؤمنين رضي الله عنها مستقيما علم لـه رسـول الله ﷺ څخه زده کاوه، ددې مسند (۲۲۱۰) احاديثو ته رسېږي، حضرت ابوموسی الاشعري رضي الله عنه وايـي: ما آشکل علينا اصحاب محمد ﷺ حديث قط، فسالنا عنـه عائشـة الا وجـدنا عنـدها منـه علـما. (رواه الترمذی فی سننه). ژباړه: کله چې به د رسول الله ﷺ په صحابوو کې کومه مشکله مسئله راغلـه نـو موږ به د حضرت بي بي عائشې څخه پوښتنه کوله او مشکل بـه حـل شـو، او الزهـري وايـي: کانت عائشة اعلم الناس يسالها الاکابر من اصحاب رسول الله ﷺ. ژباړه: بي بي عائشه رضي الله عنها تـر ټولـو خلکـو عالمه او پوهه وه دا ځکه غټو صحابه کرامو به ددې څخه پوښتنې کولې، حضرت عطاء رضي الله عنه وايي چې حضرت عائشه تر ټولو خلکو عالمه، فقيه او ښه وه (المستدرك علی الصحيحين)، دا ځکه چې کلـه بـه امير المؤمنين حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علی، ابـن عمـر، ابـن مسـعود، ابـن عبـاس رضي الله عنهم

اسماء رضي الله عنهن دي او هغه ښځې چې په ادب کې روښانه تاريخ او کارنامې لري، له هغه جملې څخه خنساء او اروى بنت عبدالمطلب دي.

ځينې هغه ځوانانې چې د قرآن د حفظ دورې ته شاملې شوې او فارغې شوې دي، د هغوى ژوند قوي او محکم ګرځېدلى دى، له اطاقونو څخه يې له قرآن کريم پرته د بل شي آواز نه دى اورېدل شوى او څومره چې د نجونو د حفظ قوه ضعيفه هم وي، کولاى شي چې هره ورځ د قرآن کريم څخه څو آيتونه ياد کړي.

## د کوچنيانو په زړه کې د الله تعالى لويي او محبت ځايول

څوارلسم: د خپلو ماشومانو په زړونو کې د الله تعالى لويي، محبت او توحيد ځاى پرځاى کړه، خپل بچيان هغو عقيدوي غلطيو ته متوجه کړه چې يې ويني، او په عقيدوي غلطيو کې يې له واقع کېدلو څخه وساته، کوښښ وکړه چې په مختلفو وختونو کې د اولاد په ذهن کې صحيح عقيده ځاى پر ځاى کړې.

له صحابه کرامو څخه نقل شوي، چې دوى به خپلو اولادونو ته د قيامت نښې ورزده کولې، چې دا کار په غيبو باندې ايمان دى، پردې سربېره د غيبي

---

اجمعين او نورو سترو صحابه کرامو ته يو مشکله مسئله پېښه شوه نو د ام المؤمنين حضرت عائشې رضى الله څخه به يې پوښتنه کوله او دا مشکل به يې ورحل کړ.

د ام المؤمنين حضرت عائشې صديقې ﷺ دعلم او پوهې په هکله کتابونه چاپ شويدي، خو ما دلته صرف ورته اشاره وکړه. د حضرت بي بي عائشې ﷺ د فضيلت څه نمونې دادي چې د رسول الله ﷺ ورسره زياته مينه وه، لکه په بخاري شريف کې راغلي دي.(و قد سئل اى الناس احب اليک قال عائشة)، د دې د پاکۍ په هکله د اسمان څخه وحيې وشوې، بل فضيلت يې دادى چې رسول الله ﷺ د دې په حجره مبارکه کې وفات شو او هلته دفن شو، يوه ورځ رسول الله ﷺ ورته وويل چې اې عائشې! حضرت جبرائيل ﷺ پر تا سلام وايي، زه يې وينم او تاسو يې نه وينئ، دې په ځواب کې ورته وويل ﷺ او داسې نور... (ژباړن)

پېښبو رامنځته کېدل په هغه طریقه چې احادیث پکې راغلي دي، ایمان تازه کوي او د قیامت ورځې ته په صحیح توبه او نیک عمل سره د تیارى لامل گرځي، صحابه کرامو به خپل اولادونه په زخم باندې له تعویذ، اورادو ځړولو او چف یاکف کولو څخه لرې ساتل[۱].

د الله جل جلاله او د هغه له دوستانو سره مینه او د الله جل جلاله له دوښمنانو څخه بېزاري (الولاء والبراء) يې په زړونو کې پیدا کړه؛ ځکه د ولاء او براء عقیده د دوی لپاره کلا ده، کوښښ وکړه چې اولاد دې په امربالمعروف او نهې عن المنکر باندې عادت او تشویق کړې؛ ځکه امر بالمعروف او نهی عن المنکر په دین باندې د ثابت پاتې کېدونکو اسبابو څخه دي، همدا راز واجب او لوى اجر پکې دی.

مور او پلار دې دا فکر نه کوي چې کوچنیان د کوم شي درک نه شي کولای او د خپلو خبرو موخه چاته نه شي بیانولای، نبي کریم ﷺ خپل لمسي-حسن بن علي رضي الله عنه ته چې کله کوچنی وو، د صدقې له خرما څخه يې یوه خرما واخیستله او خولې ته يې واچوله، د يو معلم او پالونکي په توگه وويل:

**«کخ کخ» لیطرحها، ثم قال: «أما شعرت انا - یعني آل محمد- لا نأکل الصدقة؟»**[۲]

**ژباړه:** کخ کخ چې دا خرما وغورځوي بیا یې وفرمایل: آیا دی نه دی پوه شوی چې موږ یعنې د رسول الله ﷺ اولاده صدقه نه خورو.

---

۱- د لیکوال هدف دلته شرکي تعویذ او شیطاني منترونه دي، په شریعت کې دم او هغه تعویذ چې له شرکي الفاظو اوشرکي منترونو څخه خالي او د سنتو مطابق وي جواز لري (ژباړن).

۲- صحیح مسلم ج۲ ص ۵۷۱.

## په ماشوم باندې له غوسه کېدلو ډډه کول

پينځلسم: مور او پلار دې کوښښ وکړي چې خپله غوسه پټه کړي او زر دې نه متأثره کېږي، کله چې شيطان حمله ورباندې وکړي، له هغه څخه دې پناه وغواړي، ښېکه چې اسلام د جزا لپاره اندازه ټاکلې، نو په ماشوم باندې وار کول بايد تر لسو وارو زيات نه شي، همدا راز د ماشوم عمر د وهلو په وخت کې بايد تر لسو کلونو کم نه وي او دا وهل به په مسواک او يا کوچنۍ لښته باندې وي، ماشوم به په مخ او عورت نه وهي او د وهلو په وخت کې دې د ماشوم نوم هم واخلي (چې متوجه شي) په هغه وخت کې وهل مه کوه، چې په غوسه او هيجاني حالت کې وې، که چېرته د وهلو پر ځای اولاد تشويق کړې او له خراب کار څخه يې منعه کړې، نو دا هم ستا او هم ستا د بچي لپاره غوره ده.

## ماشوم له فتنو او شر څخه ساتل

شپاړسم: مور په داسې زمانه کې ژوند کوو، چې له هر طرف څخه فتنې په کې نشر شوې، د ډال په شان خپل بچيان د فتنو او تکليفونو له غشو څخه وساته، تاسو دواړه (مور او پلار) د اولاد په تربيه کې آخري کوښښ وکړئ، کله چې فتنې ډېرې شي، نو مور او پلار بايد د اولاد په تربيه کې زيات کوښښ وکړي، که چېرې کوم وخت د مالونو غلا زياته شي، نو د مالونو خاوندان د مال ساتنې په موخه خپل مال په داده ځای کې اېږدي او زيات احتياط ورسره کوي، دغه شان بايد اولاد له فتنو څخه وساتل شي او له بده مرغه په دې برخه کې ځينې خلک د خپل ځيګر له ټوټې ( اولاد) سره ظلم کړي، داسې چې په دنيا کې يې له خپل اولاد سره مهرباني کړې، د هر څه واګې يې خلاص ور پرېښې، چې له کبله يې هغوی په حرامو کې اخته شوي او د آخرت د اور، د هغه د ګرمښت او لمبو په باب يې مهرباني نه ده ورباندې

کړي، ستاسو (مور او پلار) لپاره دا حق شته، چې خپلې لور ته غوره ملګرې او دوستانې انتخاب کړئ؛ ځکه ملګرى سيورى وي، نبي کريمﷺ فرمايي:

«الرجل على دين خليله، فلينظر أحدكم من يخالل»[۱].

**ژباړه:** سړى د خپل ملګري په دين او طريقه باندې وي، له تاسو نه دې هر يو دا فکر وکړي، چې له چا سره ملګرتيا وکړي يا څوک خپل دوست ونيسي.

مور او پلار دې د اولاد له نورو سره د ناستې پاستې او خبرو په نتيجه کې فکر وکړي، يقينا چې نبي کريمﷺ فرمايلي دي: «**السَّكِينَةُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ، وَالْفَخْرُ وَالرِّيَاءُ فِي الْفَدَّادِينَ (أَهْلِ الْخَيْلِ وَالْوَبَرِ)**»[۲].

**ژباړه:** سکون او آرامتيا په شپنو کې ده، ځان ښودنه او وياړ د ورېښمو او آسونو په خاوندانو کې دى.

پاکي ده لوى اللهﷻ لره، چې د انسان په سلوک د حيوان دومره اثر دى، نو ته څه فکر کوې چې په انجلۍ باندې به يې د ملګرې څومره اثر وي؟

خو که د چا د لور دوستانې غوره، عبادت کوونکې او د اللهﷻ د اوامرو پيروي کوونکې وي نو مور او پلار ته د خپلې لور دوسته مبارکه وي، يقينا چې د ښې ملګرې په شتون کې مور او پلار د لور په روزنه کې له نيم تکليف څخه خلاص وي.

که د لور دوستانې بد اخلاقه او بې دينه وي؛ نو دا د نجلۍ لپاره تباهي او بدي ده، بلکې بده ملګرې د آهنګر د پښ (يو شى دى، چې اوسپنې ته اور پو کوي، دا اور د دې ترڅنګ چې اوسپنه ګرموي ځينې سپرميغي يې د سړي کالي هم سوزوي) په شان ده.

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل، مسند ابي هريره ج ۲ ص ۳۳٤.

۲- صحيح مسلم باب تفاضل أَهْلِ الْإِيمَانِ فِيهِ ج ۱ ص ۷۲.

تاسو (مور او پلار) خپله لور داسې ځای ته له مېلې او منظرې څخه منعه کړئ، چې هلته یې وخت ضایع کېږي او ناروا کارونه تر سره کېږي.

د خپلې لور لپاره ښه ملگرى او دوست شئ، د خپلې لور په زړه کې حیاء او پاکي ځای پر ځای کړئ او دا تقوا او پاکي د فکر، لباس او تقلید په اعتبار سره راځي.

مور او پلار دې له کور څخه د لور په وتلو کې آساني نه کوي، بلکې له دوی څخه دې یو ورسره ملگرى وي.

تاسو مور او پلا ر دا گمان مه کوئ، چې د پرمختگ اسباب د اسلامي تعلیم یو طرف ته غورځول دي، تاسو (مور او پلار) د دې مانع شئ، چې له تاسو څخه داسې څوک وزېږېږي، چې د الله تعالی سره په ژبه یا عمل جنگ وکړي.

## د حیاء، عاجزي او له نامحرمو سره د تُندې روېې تربیه ورکول

اوولسم: حیاء او نامحرمو ته تریو تندی د ښې تربیې او پاکوالي زېږېدنې نښه ده، څومره چې د یوې پیغلې حیاء او شرافت زیاتېږي، همدومره یې قدر او ارزښت لوړېږي، هغه څه چې د نجلۍ په زړه کې د ژوند د ښکلې طریقې په توکېدنه کې مرسته کوي، د خپل مور او پلار ژوند په داسې ډول لیدل دي، چې هغه ته د ادب او حیاء جامې ور واغوندي، نو دا نجلۍ به په داسې ډول لویېږي، چې له هغه ښځو کومې چې د غم په حالت کې مخ وهي (بې حیاء)، بې عزته او بد ژبې وي، لرې وي.

مور او پلار دې د هغه چا په حال کې فکر وکړي چې د نبوت په کور کې تربیه شوې ده، فاطمه رضي الله عنها او اسماء بنت عمیس رضي الله عنها ته وفرمایل:

«إِنِّی قَدِ استَقبَح ما يُصنَعُ بالنِّساءِ، يُطرَحُ على المَرأَةِ الثوبُ فيَصِفُها»[1].

---

۱- أبو بكر أحمد بن الحُسَين بن عليٍّ البيهقي (٣٨٤ - ٤٥٨ هـ) السنن الكبير باب ماورد في النعش النساء

**ژباړه:** زه هغه کار بد ګڼم، کوم چې له ښځو سره کېږي، په ښځه باندې جامې اچوي بیا دا جامه د دې ښځې حالت بیان کوي (یعنې دا معلومېږي چې دا ښځه چاغه ده که ډنګره).

د بي بي فاطمېؓ مراد داد دی کله چې ښځه مړه شي او بیا د مړي په کټ کې کېښودل شي (په عربو کې د مړو لپاره پخوا داسې کټونه وو، چې دوه لرګي به یې تړلي وو، د هغه له پاسه به مړی پروت وو، ددې کټ په سرباندې به هېڅ نه وو، نر، ښځه، چاغ او ډنګر به وربانـدې معلومېدل)، اسماء بنت عمیسؓ وفرمایل: اې د رسول اللهﷺ لورې! آیا زه تاته هغه څه در ونه ښیم کوم چې ما په حبشه کې ولیدل؟

نو اسماء بنت عمیسؓ د خرما لمدې څانګې راوغوښتې، بیا یې یو د بل سره په دې کټ باندې یو ځای کړې (یعنې د قفس په شکل یې یو د بل سره وتړلې) بیا یې په دې قفس ډوله لښتو باندې جامه ور واچوله (دا قفس داسې شو، چې لاندې تخته وه برسېره وربانـدې لښتې وې، بیا وربانـدې جامه اچول کېده، نو بیا دا نه ښکارېده، چې مړی نر دی که ښځه، چاغ دی که ډنګر)، نو بي بي فاطمېؓ وفرمایـل: **ما أحسن هذا وأجمله إذا مـت فغسـليني أنـت وعلي، ولا يدخل عليَّ أحد».**(۱)

**ژباړه:** څومره ښه او ښایسته دی (یعنې په ستر او پرده کې څومره ښـه شو، هېڅ چاغ، ډنګر نر او ښځه نه معلومېږي).

په بل روایت کې راغلي: بیخي ښځه له نارینه څخه نه معلومېږي، کله چې زه وفات شوم ته او حضرت علي کرم الله وجهه ماتـه غسـل راکـړئ، پـه نورو

---

ج۷ ص ۳۷٦، تحقیق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي،الناشر: مركز هجر للبحوث والدراسات العربية والإسلامية (الدكتور / عبد السند حسن يمامة)، الطبعة: الأولى، ۱٤۳۲ هـ - ۲۰۱۱ م.

۱- السنن الكبير باب ماورد في النعش النساء ج۷ ص ۳۷٦.

روایتونو کې د حضرت علي کرم الله وجهه ذکر نشته، علي‌رضی الله عنه خو غسل نشوای ورکولای، یواځې د جنازې په پورته کولو کې به یې مرسته کوله، او هېڅوک دې ماته نه راننوځي.

په یو روایت کې راغلي کله چې بي بي فاطمه‌رضی الله عنها وفات شوه، بي بي عایشه‌رضی الله عنها غوښتل چې ورشي خو اسماء بنت عمیس‌رضی الله عنها منعه کړه.

دا د خپګان خبره ده، چې د نجلۍ پلار به د دبدبې شان او شوکت سړی وي او مور یې هم مکمله پټه او حتی دستکش (دستانه) یې هم په لاس کړي وي، خو لور به یې لس کلنه یا تر دې په کم عمر کې وي، پتلون یا لوڅه جامه یې د پردیو خلکو په مخکې، په بازار او نورو ځایونو کې اغوستې وي.

## ښو کارونو ته هڅول

اتلسم: کومه ماشومه چې د خیر کارونه ویني، نو په پیغلتوب کې هغې ته د یادو کارونو تر سره کول، مثل او یو له بل څخه ښېلول آسانه کېږي.

هو! د صدقې په برخه کې دا ده، چې د نجلۍ په څنګ کې یو صندوق کېږده، هر وخت به د خپل وس مطابق پیسې پکې اچوي تر څو بخیلي ترې له منځه لاړه شي او له بل اړخه به نفلي عبادتونو، تهجد او نورو نېکو اعمالو ته بیړه کوي، د نېکۍ مینه به یې له مور څخه د شېدو رودلو په وخت کې تر لاسه کړې وي او قدمونه به یې د نېکۍ، د دین خدمت او هغه ته د بلنې لپاره د پورته کېدو په حال کې وي.

هو! دا نجلۍ د نېکۍ بوی د امیدونو په ځای کې نشروي، د دې نجلۍ موخه د دین لپاره څه وړاندې کول دي او یو څه کول دي او دا چې څه ډول خپلو ګاونډیانو او ملګرو ته بلنه ورکړي؟

ولې نه! چې دا هر څه د مور او پلار تر څارنې او روزنې لاندې تر سره کوي

او پر دې سره د هغوی درجې په جنت کې اوچتیږي.

یوې معلمې ذکر کړي چې له دې څخه یې شاګرده په تفریح کې ورکه شوه، کله چې دې معلمې پلټنه وکړه، ګوري چې دې نجلۍ د ځانښت لمونځ د مدرسې په جومات کې کاوه.

(د دې کوچنۍ کیسې مطلب دا دی چې دا نجلۍ ښه روزل شوې وه هر ځای او په هر وخت کې خپل لمانځه ته متوجه وه).

## لورګانو ته په خبرو کولو کې وخت ورکول

نولسم: په کورونو کې زیاتره پلرونه او میندې خبرې کوي او لور ته د خبرو وخت نه ورکوي، د محاورې او مناقشې په پیل کې د خبرو کولو شوق پورته کېږي، بیا هغه څه پېژندل کېږي کوم چې د دې نجلۍ په فکر کې ګرځي او په وروستۍ مرحله کې د هغې د خبرو ارزیابي ده چې کومې سمې دي او کومې اصلاح کول غواړي، هر وخت چې دا نجلۍ خبرې کوي او بیا د دې خبرو نسبت د خپل ځان تربیې ته وکړي، داسې چې مخامخ یې له خپل مور او پلار سره خبرې نه وي کړې، سره له دې چې په دې ټولو کې یې د خبرو تړاو له کورنۍ سره دی، د دې پر ځای چې د دې نجلۍ د خبرو نسبت د دې ملګرو ته وشي او کېدای شي چې له پردي ځوان سره خبرې وکړي.

(مور او پلار باید د خپل اولاد د خبرو ارزیابي وکړي؛ ځکه د اولاد د خبرو نسبت کورنۍ ته کېږي، ملګرو ته نه کېږي یعنې خبرې کول د کورنۍ په تربیه دلالت کوي، کله کله کېدای شي د پردیو خلکو سره خبرې وکړي، که یې والدینو خبرې نه وي اصلاح کړې کېدای شي ګډې وډې ووایي، که چېرته په کورنۍ کې د خبرو کمی حس کړي یا یې څوک خبرو ته پاملرنه ونه کړي

کېدای شي د پردي څوان سره خبرو کولو، خدای مه کړه، ته زړه ښه کړي)[1].

په دې برخه کې د نرمۍ له مخې د ملامتیا او عذاب تخفیف لیدل کېږي، چې پر دغه مرعات کې وړه نجلۍ ډېره حق داره ده، (مطلب دا دی که د نجلۍ څخه خبرې غلطې شې باید عذاب ورنه کړل شي، نرمي ورسره وشي په ځانګړي ډول له نجلۍ سره).

د نجلۍ ډېر تشویقول او ښه ستایل د نجلۍ عاطفي تنده ماتوي، د دې ترڅنګ د نجلۍ، مور او پلار ترمنځ مینه او محبت زیاتوي.

## د علم، عمل، او ښې پالنې طرفته هڅوونکي امکانات برابرول

شلم: کتاب او قلم یوه قوي ماده ده چې ډېرې ښې فایدې پکې دي، چې له دې جملې څخه شرعي علم، د خبرو طریقه او ښایسته عبارات دي.

کتاب او قلم نجلۍ له ټولګیوالې، ملګرې او ورځنۍ بلونکې څخه بې پروا کوي، په میندو او پلرونو لازم دي چې خپله لور ګټورو څېزونو ته وهڅوي، سره له دې چې د کمي طرفونه به هم پکې ګوري، مور به کوښښ کوي چې هغه کتابونه چې د نجلۍ د نقص، کمۍ او مشکلاتو درملنه کوي ورکړي.

## مور او پلار باید خپلو بچیانو ته وخت ورکړي

یوویشتم: اې پلاره! ستا وخت زیات دی او ستا سره د کار د خلاصېدو څخه وروسته هم ډیر وخت وي، د دې فارغ وخت نه تا خپلو بچیانو ته څومره وخت ورکړی دی؟

که چېرته د اولاد په حق کې کمۍ کونکی وې، نو هغه جبران کړه او د دوی لپاره له خپل وخت څخه ډېره برخه ورکړه، که چېرته د هغه چا له جملې

---

[1]- ژباړن.

څخه وې، چې د وخت ساتنه کوي او دا وخت دې خپل اولاد ته ورکړي وي، نو تاته دې مبارک وي، ته د دې څخه مه غافل کېږه، چې کور او دا کوچنی مملکت دې یوه ایماني تفریح گاه شي، په کور کې دې اولاد ته د رسول الله ﷺ سیرت ووایه، او په دې کور او مملکت کې دې د اولاد لپاره اسلامي فرهنگ او علمي مسابقات دائر کړه، چا چې قرآن کریم حفظ کړ هغوی ته قیمتي جایزې ورکړه، د رسول الله ﷺ له سیرت، تعامل، تواضع او له ماشومانو سره د هغه د خوشطبعۍ په پلټنه او عملي کولو کې حریص اوسه.

شاعر څه ښه ویلي دي:

لیس الیتیم من انتهی أبواه

من هم الحیاة وخلفاه ذلیلا

إنما الیتیم من تلق له

أمًا تخلت وأبًا مشغولا

یعنې: یتیم هغه نه دی چې مور او پلار یې نه وي، چا چې خپل ژوند پای ته رسولی وي او واړه بچیان یې پاتې وي ترڅو خلک شفقت وربانديې وکړي، بلکې یتیم هغه دی چې بې پروا مور او مشغول پلار ولري د اولاد تربیې ته هېڅ پاملرنه نه کوي،اصلي یتیمان او د شفقت وړ همدا کسان دي چې بې تربیې پاته شي.

## لور ته د زوی څخه زیاته مینه او محبت ورکول

دوه ویشتم: لور د پلار مینې، مهربانۍ او محبت ته د زوی په پرتله زیات ضرورت لري، په مور او پلار لازم دي، چې د لور عواطفو ته د خپل توان مطابق پاملرنه وکړي.

نبي کریم ﷺ به خپله لور ښکلوله، د هغې کور ته به ورتلو، کله به یې چې

وليدله، نو ښه رآغلاست به يې ورته وايه او ويل به يې:

«مَرْحَبًا بِابْنَتِي» فَأَجْلَسَهَا عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ»[۱].

**ژباړه:** (لور مې دې په خير راشي) بيا به يې خپل ښي يا چپ اړخ ته کښنوله.

او رسول اللهﷺ به: «**إذا دخلت عليه فاطمة ابنته قام إليها فأخذ بيدها فقبلها، وأجلسها مجلسه**»[۲].

**ژباړه:** کله به چې فاطمهؓ، رسول الله ته ورغله، نو رسول اللهﷺ به ورته پورته شو، تر لاس به يې ونيوله او ښکل به يې کړه، بيا به يې په خپل ځای ناستي کښنوله.

ابوبکر صديقؓ به خپلي لور اسماءؓ ته ورتلو، هغه به يې ښکلوله او د حالت پوښتنه به يې ترې کوله.

براءبن عازبؓ ويلي دي: «**... فَدَخَلْتُ مَعَ أَبِي بَكْرٍ عَلَى أَهْلِهِ، فَإِذَا عَائِشَةُ ابْنَتُهُ مُضْطَجِعَةٌ قَدْ أَصَابَتْهَا حُمَّى، فَرَأَيْتُ أَبَاهَا فَقَبَّلَ خَدَّهَا وَقَالَ: «كَيْفَ أَنْتِ يَا بُنَيَّةُ**»[۳].

**ژباړه:** د ابوبکر صديقؓ سره د هغه کور ته لاړم، نو عائشهؓ په يو اړخ پرته وه او تبه يې وه، ما يې پلار (ابوبکر) ولېد، چې د هغې مخ يې ښکل کړ او ويې ويل: څنګه يې اې لورکی!.

واقعه: يو پلار د خپلي لور د واده په شپه ژړل او ويې ويل: له خپلي لور سره په کور کې نه يم ناست او دې ته مې مکمل وخت هم نه دی ورکړی او د دې غږ مې داسې وخت کې نه دی اورېدلی، چې قرآن کريم يې لوستلو، اوس د

---

۱- صحيح مسلم، کتاب فضائل الصحابه، بَاب فَضَائِلِ فَاطِمَةَ بِنْتِ النَّبِيِّ ج ۴ ص ۱۹۰.

۲- سنن الترمذي، کتاب المناقب، باب فضل فاطمه بنت ج ۵ ص ۷۰۰.

۳- صحيح البخاري ۵ ج ٦٤ ص.

بل چا شوله نو څه وخت به ورباندې نېکبخته شم!

او که له دې وروسته یې ووینم، نو په هفته کې به یواځې یو ځل یو څو دقیقې وي.

نو اې پلاره او اې مورې! د دې سړي په څېر مه کیږئ، چې بیا به افسوس کوئ، د دنیا ښایست او نېکمرغي دا ده چې مور او پلار یې خپل اولاد ته نیږدې وي.

کاش هر پلار او مور له خپلې لور سره یو د مینې مجلس درلودلای، پر دې مجلس کې به خوشطبعي، حیرانونکې خبرې او د نجلۍ تر صفاتو پورې تړلې ستاینه وي، په مور لازم دي چې یو او بل وخت د یو مناسبت او نه مناسبت له مخې له خپلې لور سره زیاته نرمي وکړي، په دې کار کې ډېر نا آشنا تأثیر دی.

## له ټولنیزو شبکو څخه اولادونه ساتل

دروېشتم: تلیفون، انټرنیټ او تلویزیون داسې اسلحې دي چې دواړه یې خواوې یې تېرې دي، مور د دې شیانو اغېزې په ډېرو سپین ږېرو او سپین سرو باندې لیدلې دي، نو ستاسو څه خیال دی چې په کوچنۍ نجلۍ او هغه څوک چې غټ شوي وي او نوی د ځوانۍ مرحلې ته رسېدلی وي څومره اغېز به ورباندې ولري؟

په دې څېزونو کې نیوکې، پلټنې او ښې لارښوونې اړینې دي؛ ځکه دا کار مهم دی او کله کېدای شي چې اخلاقي، عقیدوي او دیني فساد رامنځ ته کړي، دا توکي د نجلۍ لپاره د مجلس د ملګرو په څېر دي، نو مور به ګورو چې نجلۍ څه ترې زده کوي!

بلکې دا وسایل د یوې نجلۍ لپاره تر ملګرې زیات خطرناک دي؛ ځکه ملګرې خبرې اترې او مناقشه له یوې پیغلې سره کوي، خو دا وسایل په زړونو کې شکونه، په حواسو کې شهوات او فتنې ور اچوي او هغه چا رښتیا ویلي:

(ځان وساتئ چې کورونو ته مو هغه غله داخل نشـي چې لـه سرو او سـپينو زرو ځخه قېمته شی غلا کوي چې هغه ستاسو دين، اخلاق، پاکي، او شرافت دی).

او بل کس هم رښتيا ويلي چې:

هغه پلار چې خپلو زامنو ته يې د تلويزيون ډيش واخيست، هغه خپل اولاد ډيـش ته وسپارلو، چې پالنه يې وکړي او له خپلې خوښې سره برابر لارښوونه ورته وکړي.

د ځينو ورونو په چټکه سرشمېرنه کې دا معلومـه شـوې چـې د (٪۵۰) څخـه زيات هغه خلک بنديان دي، چې د جرمونو او تاوانونو فلمونه بـه يـې کتـل، نـو پيل او پای ته گوره او سخت اوسه.

## د لور لپاره سيال او برابر خاوند غوره کول

ځلور ويشتم: د لور لپاره د سيال خاوند اختيارول او د لور واده تـه د لويـوالي په عمر کې بېړه کول ترڅو چې له انحراف او بې لارۍ څخـه وسـاتل شي، لـه لور سره ډېر لوی احسان په نېک خاوند سره د هغـې نېکبختـه کـول دي، امـام شعبي رحمه الله ويلي: چا چې خپلـه لـور فاسـق تـه ورکـړه، خپلـه صـله رحمـي او خپلولي يې ورسره قعطه کړه.

له هغه چارو چې پلار د خپلې لور د نکاح په اړه پکـې کوښـښ کـوي دا دي چې: د لور د واده وړاندېز غـوره خلکـو تـه وکـړي هغـه کـه مسـتقيم وي او کـه بالواسطه وي، لکه يو څوک چې خپل باوري کس ته د خپلې لور يادونـه د يـوه ځوان پـه هکلـه وکـړي، بېشـکه دا کـار ابـوبکر صـديق، عمـر او نـورو صـحابه کرامو رضي الله عنهم کړی دی، په دې کار کې له دې پرتـه چـې يـو کـس خپلـې لـور تـه نېک خاوند پيدا کړي، بل شی نشته؛ ځکه نېک خاوند د خپلې ښـځې سره پـه نېکۍ او خير کې مرسته کوي.

سره له دې چې د نجلۍ د واده په ورځ کـې بـه اسراف او نـاروا کارونـه لکـه موسيقي، سندرې، فاحش کارونه او د نامحرمو يو بل ته کتل به منعـه کـوي او

هغه بهتره شي چې نجلۍ خپل نوی ژوند وربانديې پيل کوي هغه د رب العلمين پيروي ده، ترڅو يې د نېکو کارونو توفيق او نېمکرغي يې نوره هم زياته شي.

## له ناروا او نامناسبو ځايونو څخه د لور او اولاد ساتل

پنځه ويشتم: د روژنې لويه برخه چې غاړه پرې خلاصېږي، د مشتبهاتو او منکراتو له ځای څخه د لور لرې کول دي، مور او پلار دې خپله لور داسې ځای ته نه بيايي، چې هلته نارينه او ښځې ګډ (مختلط) وي او نه داسې ځای ته چې هلته د الله تعالی نافرماني کېږي، لکه موسيقي، بې ځايه سينګار يا نور...

مور به له خپل وس سره برابر کوښښ کوي، چې بازار د لور لپاره د دندې ځای ونه ګرځوي، بلکې خپلې لور ته به دا ور زده کوي چې بازرا ته تګ د اړتيا له مخې وي، ښېشکه چې نبي کريمﷺ د بازارونو په هکله ويلي دي:

**«أحب البلاد إلى الله مساجدها، وأبغض البلاد إلى الله أسواقها»**[1].

**ژباړه:** غوره ځايونه د الله تعالی په نزد مسجدونه دي او بد ځايونه د الله تعالی په نزد بازاروونه دي.

که چېرته بازرا ته ځي په پرده او عزت سره به ځي او خپل کار به زر سر ته رسوي، زموږ چې په ياد دي، په مخکې وختونو کې به ښځې بازارونو ته نه وتلې، بلکې دا کار پر دې وروستيو وختونو کې پيل شو.

## لور ته د کور په کارونو کې وړتيا (مهارت) يادول

شپږويشتم: خاوند له داسې باتدبيره او هوښيارې ښځې سره مينه لري چې کارونه يې منظم او د کور ښه ساتنه کوي، د نن ورځې پيغله د سبا ورځې مور ده، هغه څه چې نجلۍ په ژوند کې ورسره مخ کېږي او اړتيا ورته لري، آشپزي

---

[1]- صحيح مسلم، کتاب المساجدومواضع الصلاة، باب أحب البلاد إلى الله مساجدها ١ج ٤٦٤ ص.

او د کور کارونه دي، کامیابه مور په خپله لور د کور په کارونو ټینګار کوي او تمرین ورکوي ترڅو داسې مېرمن ترې جوړه شي، چې بیا د خپل کور ساتنه په سمه توګه وکړي، دا بیا د دې مېرمنې لپاره شرف او د اوسېدلو ځای یې دی، د پیغمبرانو لورګانو هم دا کارونه کول، بي بي فاطمېﷺ به د حضرت علي کرم الله وجهه په کور کې خدمت کاوه تر دې پورې چې مېچن به سترې کړه او کار به زیات ورباندې سخت شو.

## د روزنې په بدل کې له الله تعالی څخه د بدلې غوښتل

اووه ویشتم: کله چې تاسو (مور او پلار) غم او پرېشاني راګیر کړي او د تربیې وخت در باندې اوږد شي، نو تاسو د الله تعالی هغه بدله در یاد کړئ، چې د ښې پالنې، روزنې دعوت او لارښونې په مقابل کې یې در کوي.

له شیخ عبدالعزیز بن بازرحمه الله څخه لاندې پوښتنه وشوه:

نبي کریمﷺ فرمایي: «**مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ فَصَبَرَ عَلَيْهِنَّ، وَأَطْعَمَهُنَّ، وَسَقَاهُنَّ، وَكَسَاهُنَّ كُنَّ لَهُ حِجَابًا مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**»[1].

**ژباړه:** د چا چې درې لورګانې وي او په دوی باندې صبر وکړي، خوراک، څښاک او پوښاک ورکړي نو دا لورګانې به د ده لپاره له اور څخه پرده شي، آیا دا نجونې به تنها د پلار لپاره له اور څخه پرده جوړېږي او که مور هم ورسره شریکه ده؟ او زما د الله شکر دی درې لورګانې دي؟

هغه ځواب ورکړ: حدیث شریف پلار او مور دواړو ته متوجه دی، ځکه چې په بل ځای کې رسول اللهﷺ فرمایلي:

---

۱- المؤلف: ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، وماجة اسم أبيه يزيد (المتوفى: ٢٧٣هـ) سنن ابن ماجه، بَابُ بِرِّ الْوَالِدِ، وَالْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ ٢ج ١٢١٠ ص،تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي،الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي.

«من كان له ابنتان **فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ**»[۱].

او همدا شان که چېرته ځوک خوينديې، تروريانې، يا نورې خپلوانې ولري او ښه ورسره وکړي، نو موږ دغه سړي ته په دې عمل سره د جنت هيله لرو؛ ځکه دا سړی چې کله د دې ښځو سره ښه وکړي نو په دې عمل سره د لوی اجر وړ ګرځي او له اور څخه ساتل کېږي، د ده او اور تر منځ د نوموړي د ښه عمل په واسطه پرده پيدا کېږي، دا اجر تر مسلمانانو پورې ځانګړی دی (يعني که کافر له اولاد سره هر څومره ښه وکړي خو ايمان رانه وړي، نو دا نېک عمل هېڅ فايده نه ور رسوي) خو مسلمان چې کله دا د خير کار د الله تعالی د رضاء لپاره وکړي، نو دا نېک کار له اور څخه د خلاصون سبب شو، له اور څخه خلاصون او جنت ته داخلېدل ډېر اسباب لري، مؤمن ته مناسب دي، چې دا اسباب د ځان لپاره زيات برابر کړي او په خپله اسلام جنت ته د ننوتلو او له اور څخه د خلاصون يوازينی اصل او اساسي سبب دی.

دلته نور هم داسې عملونه شته، که چېرته يو مسلمان هغه ترسره کړي، جنت ته پرې داخلېږي او له اور څخه نجات پرې مومي، لکه چاته چې الله لورګانې يا خوينديې ورکړي، هغه ښه ورسره وکړي نو دغه کس ته له اور څخه پرده ګرځي او همدارنګه د چا چې درې اولادونه له بلوغ وړاندې مړه شي، نو هغه ته له اور څخه پرده ګرځي، صحابه کرامو وويل: اې د الله رسوله! که چېرته دوه وي (نو آيا له اور څخه پرده ګرځي)؟

رسول اللهﷺ وفرمايل: هو! که دوه هم وې او د يوه په هکله يې پوښتنه ونه کړه، له نبي کريمﷺ څخه په صحيح روايت کې راغلي، چې ويې فرمايل: «**يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ**

---

۱- صحيح مسلم، بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ (بتغير الالفاظ) ج۴ ۲۰۲۷ ص.

أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ، إِلَّا الجَنَّةُ»[۱].

**ژباړه:** الله تعالی فرمايي: زما د هغه بنده لپاره چې د دنيا له اهل څخه يې يو محبوب شخص وفات شي او دی صبر وکړي، بدله يې جنت دی.

الله سبحانه وتعالی دا واضح کړه، چې د مؤمن بنده لپاره کله يې چې په دنيا کې يو محبوب مړ شي او دی د ثواب په نيت صبر پرې وکړي، پرته له جنت څخه بله بدله نشته.

پدې حديث شريف کې يو کوچنی اولاد (هغه چې مخکې تر بلوغ مړ شي) هم داخل دی، کله يې چې الله تعالی واخلي، روح يې قبض کړي، نو مور يا پلار يا دواړه د ثواب په نيت صبر وکړي، د دوی دواړو (مور او پلار) لپاره جنت دی او دا د الله تعالی لوی فضل دی، همدارنګه خاوند او مېرمن او نور ټول خپلوان او ملګري کله چې صبر وکړي او نيت د ثواب ولري، په دې حديث شريف کې داخل دي، سره له دې چې دوی به له داسې څه ځانونه ساتي، چې د دوی مرګ په کبيره ګناه کې وشي، د الله تعالی څخه د دوی د سلامتيا غوښتنه کوو (له دې سره به له نورو کبيره ګناهونو څخه هم ځان ساتي، تر څو مرګ يې د کبيره ګناه کولو په وخت کې واقع نه شي).

او يا هم په بل عبارت بغير د لور څخه که چېرته د چا خاوند يا ښځه يا نور خپلوان مړه شي او د ثواب په نيت صبر ور وکړي، په دې حديث شريف کې داخل دي، خو که چېرته څوک په کبيره ګناه باندې مړشي له دې ګناه څخه بيا مستثناء دي.

د شيخ ابن باز رحمه الله تعالی څخه پوښتنه وشوه: په ذکر شوي حديث شريف کې احسان څه شی دی؟

هغه ځواب ورکړ: د لورګانو او امثالو سره يې احسان دا دی چې دوی ته

---

۱- صحيح مسلم کتاب الرقائق باب بَاب الْعَمَلِ الَّذِي يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللهِ ۸ج ۹۰ ص.

اسلامي تربيه او تعليم ورکړل شي او په حق باندې لويې شي، د دوی د آبرو او عزت زيات خيال وساتل شي، له داسې شي څخه لرې وساتل شي چې الله تعالی حرام کړي وي.

همدارنگه د خويندو او نارينه اولاد د تربيې لپاره د احسان نورې لارې هم ولټول شي، تر څو ټول د الله تعالی او د هغه د رسول په پيروۍ باندې وروزل شي او له هغه څه لرې شي، چې الله تعالی حرام کړي دي، د الله تعالی د حقوقو ساتنه وکړي، په دې سره دا معلومېږي چې احسان يوازې په خوراک، څښاک او جامه سره نه دی، بلکې د دې مراد عام دی، چې دين او دنيا دواړو ته شاملېږي[1].

## مور او پلار بايد د خپل اولاد څارنه وکړي

اته ويشتم: ستاسو دواړو (مور او پلار) کور هغه غته ونه ده، چې اولاد تر هغې لاندې ژوند کوي راحت او آرامتيا پکې مومي، د نېکمرغۍ لوی سبب له کور څخه د منکراتو لرې کول او کور ته نه پرېښودل دي؛ ځکه ناروا کارونه زړونه فاسدوي، عذاب جلبوي او نعمتونه لرې کوي، په دې باندې بايد حرص وشي، چې دوی بې گټې، عبث او د منکراتو ځايونو ته لاړې نشي؛ ځکه دا گناه او په گناه باندې عادت کېدل دي، همدا راز دا يې د شخصيت کمونه ده.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ويلي دي:

د انسان لپاره داسې ځايونو ته تلل نه دي روا، چې هلته ناروا کړنې تر سره کېږي، خو که چېرې شرعي دليل ولري بيا داخلېدلای شي، مثلاً هلته داسې کار وي چې د دين يا دنيا مصلحت په کې پروت وي او د ده له شتون پرته هېڅ امکان ونه لري او يا په زور بوتلل شي.

[1]- مجموع فتاوی ورسائل الشيخ ابن باز (٤/ ٣٧٥).

د مور لپاره دا روا دي چې د لور کوټه وپلټي او د کتابونو بکس يې خلاص کړي چې څه پکې دي، علماوو دې کار ته شرعا جواز ورکړی او دا هغه پلټنه نه ده چې منعه ور څخه راغلې، دا کار له هغه جملې څخه دی، چې د اولاد ساتنه پکې ده.

که مور ښکاره انځورونه، فلمونه يا نور بد څيزونه پيدا کړي، د دې کار درملنه دې ښه په حکمت او پټ شکل سره وکړي.

مور بايد دا راز وساتي، افشاء يې نه کړي او داسې ونه کړي، چې د لور رازونه پرته له کومې ګټې افشاء کړي.

## مور او پلار بايد خپل ټول شرعي مسؤليتونه وپېژني

نهه ويشتم: د مور او پلار مسؤليت لور ته شرعي تعليم ورکول دي په ځانګړي ډول د پاکوالي، حيض او نور هغه احکام چې تر ښځو پورې ځانګړي وي؛ ځکه نجلۍ کله په ځينو پوښتنو خجالت کېږي (يعني کله کله د پاکوالي، حيض او نفاس اړوند پوښتنې ورته پيدا کېږي، خو چاته يې نه شي ويلای، نو غوره داده چې مخکې دا شيان ور وښودل شي).

له بلوغ وړاندې نجلۍ ته د يادو څيزونو ښودنه بايد د يوې مقدمې په ډول وي او يا نجلۍ ته هغه کتابونه او فتاواوې هديه شي چې په هغه کې دا احکام موجود وي، د مور د نيږدې والي له کبله لور ته زده کړه او د سوالونو طرحه کول ډېر آسانه وي، په ځانګړي ډول کله چې د نجلۍ پيغلتوب ته نيږدې شي او د بلوغ نښې پرې ښکاره شي؛ ځکه دا نجلۍ د مور د ملګرۍ او مهربانۍ زياته مستحقه ده.

## په عامو حالاتو کې د نارينه او ښځينه اولاد تر منځ برابرښت

دېرشم: د نارينه او ښځينه اولاد تر منځ مساوات او يو پر بل غوره نه ګڼل،

ځینې پلرونو ته چې الله تعالی نارینه اولاد ورکړي، نو د نارینه اولاد طرف ته میلان کوي او دوی په معامله او خبرو کې غوره ګڼي، اسلام د اولاد تر منځ په عدل او مساوات حکم کړی، تر دې پورې چې رسول الله ﷺ عدل او مساوات جنت د ننوتلو له اسبابو څخه یو سبب ګڼلی، خو په هغه صورت کې چې هلک په نجلۍ غوره ونه ګڼل شي، اولادونه په محبت، ورکړه، د مال او ډالیو په ورکولو، په تهذیب او د علم په طلب کې برابر دي، همدا راز په معامله حتی په ښکلولو کې یو شان دي.

**وفي قصة النعمان بن بشير ﷺ خير عبرة وعظة عندما أراد أن يهب لأحد أبنائه جزءًا من ماله دون بقية إخوته، فأراد أن يشهد النبي ﷺ على ذلك، فقال له النبي ﷺ: «ألك ولد غيره؟» فقال النعمان: نعم، فقال النبي ﷺ: «هل آتيت كل واحد مثل الذي آتيت له هذا؟» قال النعمان: لا، فقال رسول الله ﷺ له: «فَإِنِّي لاَ أَشْهَدُ عَلَى هَذَا؛ هَذَا جَوْرٌ، أَشْهِدْ عَلَى هَذَا غَيْرِي، اعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلاَدِكُمْ فِي النُّحْلِ، كَمَا تُحِبُّونَ أَنْ يَعْدِلُوا بَيْنَكُمْ فِي الْبِرِّ وَاللُّطْفِ»**[۱].

**ژباړه:** د نعمان بن بشیر ﷺ په قصه کې ښه پند او عبرت دی، کله یې چې له زامنو څخه یو زوی ته د مال یوه برخه ډالۍ کول وغوښتل، نو نعمان بن بشیر ﷺ اراده وکړه، چې رسول الله ﷺ په دې کار ګواه کړي، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: آیا له دې پرته بل اولاد لرې؟

نعمان ﷺ وویل: هو! لرم یې، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: آیا هره یوه ته هغه څه ورکوې، کوم چې دې زوی ته یې دې ورکوي؟

هغه وفرمایل: نه، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: زه په دې باندې نه ګواه کېږم، دا ظلم دی، زما څخه بغیر بل څوک په دې ګواه کړه، د خپلو اولادنو

---

۱- رواه البیهقي في السننه باب ما یستدلو به على أن أمره بالتسویة بینهم في ج٦ ص ١٧٨.

ترمنځ په ورکړه کې عدل وکړئ، لکه څرنګه چې تاسو خوښوئ، چې په نیکۍ او لطف کې د دوی تر منځ عدل وکړئ.

**البزار عن أنس ﷺ أن رجلاً كان عند النبي ﷺ فجاء ابن له فقبّله وأجلسه على فخذه وجاءت بنية له فأجلسها بين يديه، فقال رسول الله ﷺ: «ألا سويت بينهما؟!»**[1].

**ژباړه:** بزار له حضرت انس ﷺ څخه روایت نقل کړی، چې یو سړی له نبي کریم ﷺ سره وو، د هغه زوی راغی، ښکل یې کړ، بیا یې په خپل زنګانه کېناوه، بیا د دغه سړي لور راغله، هغه یې په خپل مخ کې یې کېنوله، په دې وخت کې رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ولې دې د دوی ترمنځ عدل ونه کړ؟

د اولاد تر منځ توپیر کول د هغوی تر منځ د بغض او کینې کرل دي، ځینې پلرونه مړه شي او زامن یې په ملکیتونو او قدرتونو کې یو له بل سره سیالي کوي، سره له دې چې یو هم نه وي پوه شوی چې پلار یې کوم امتیاز ورکړی وو (اوس چې یو له بل سر په مال او قدرت کې سیالي کوي، او د بل په قصه کې نه دي دا پر دې دلالت کوي چې پلار یې عدالت نه دی ورسره کړی)، څوک چې د یوسف ﷺ په قصه کې فکر وکړي نو دا مسأله به ښه ورته واضح شي.

د مور او پلار دا دنده ده، چې اولادونه یو بل ته نیږدې کړي او یو له بل سره یې په محبت باندې وروزي، او د اولاد تر منځ د احترام، قدر او ایمان تخم وشیندي، د دې لپاره زمینه برابره کړي، تر څو چې د ورونو ترمنځ د مینې او محبت نیالګی وده وکړي.

---

[1]- أحمد بن علي بن محمد الكناني العسقلاني، أبو الفضل، شهاب الدين، ابن حَجَر (المتوفى: ۸۵۲ هـ) مختصر زوائد مسند البزار على الكتب الستة ومسند أحمد ج۲ ص ۴۹۱.المحقق: صبري عبد الخالق أبو ذر،الناشر: مؤسسة الكتب الثقافية بيروت،الطبعة: الأولى ۱۴۱۲ هـ، ۱۹۹۲ م.

## خپلې لورګانې په ديني حلقو کې داخلول

يو دېرشم: الحمد لله په هر ځای کې د قرآن کريم د حفظ يو شمېر مدرسې جوړې شوې دي، د هر مور او پلار لپاره په کار دي، چې مدرسې ته د خپلې لور په دا خلولو کې بيړه وکړي، تر څو هلته قرآن کريم پکې ولولي او د دعوت کوونکو ښوونکو په لاس وروزل شي، چا ته چې د سهار په مدرسو کې د درس زمينه نه وي برابره نو لږ تر لږه د ماسپښين لخوا دې د حفظ په هغه مدرسو کې داخله وکړي چې الله ﷻ لوی خير پکې ايښی، د قرآن کريم په مجلسونو کې اولاد په قرآن کريم باندې تربيه کېږي، د هغه په تګلاره خپل تګلوری او پوهه برابروي، همدا راز پر دغه مدرسو کې پاک او ښايسته مجلس د هغه لپاره د برکت لامل ګرځي.

## د حجاب په اړه لورګانو ته کلکې سپارښتنې کول

دوه دېرشم: د مسلمانې ښځې ځانګړتيا بايد په داسې پټوونکي لباس سره وشي، چې د فتنې ځايونه يې پکې ښکاره نه شي او نارينه يې ويښتان (کمڅۍ) ونه ويني، کله چې ديندارې کمزورې شوه، ډېرو خلکو ديانت ته شا کړه، رسنيو د ښځې په فساد لاس پورې کړ، داسې لباس خپور شو، چې د مسلمانانو لباس نه دی.

له بده مرغه چې کوچنۍ ماشومې خپل ماشومتوب په بربنډوالي، بې شرمۍ او کمه حياء کې تېر کړ، د سينې، غاړې، او پنډيو په لوڅوالي عادت شوه، چې لويه شوه، دا کا ورته عادي وګرځېد؛ ځکه همداسې لويه شوې او روزل شوې ده.

نبي کريم ﷺ د مسلم شريف په مشهور حديث کې ويلي دي:

«وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ»[۱].

ژباړه: او ځينې ښځې دي چې نرۍ او لنډې جامې اغوندي او بربنډې دي. او دا يې هم ذکر کړي چې جنت ته دا ښځې نه شي داخلېدی او نه به يې بوی وويني.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله تعالى ويلي دي: کاسيه او عاريه له دې کبله ورته وايي، چې جامه يې نرۍ، لنډه يا تنگه وي.

شيخ ابن باز رحمه الله د کوچنيو نجونو د لنډ لباس په اړه وايي: کوچنيو نجونو ته لنډ لباس اغوستل جايز ندي؛ ځکه که په لنډ لباس وروزل شي بيا پرې عادت کېږي او کله چې لويه شي له دې جامې پرته له مستورې جامې څخه يې بد راځي، په دې کار سره د ممنوع څيز او فتنې مخه نيول کېږي په کوم کې چې لويانې واقع شوې دي.

حضرت عمر رضي الله عنه په فارس کې خپل لښکر ته يو پيام ولېږه: د مشرکانو له لباس څخه ځانونه وساتئ، کوم لوڅ او بې حياء لباس چې موږ وينو، دا د مشرکينو لباس دی د مسلمانانو نه دی.

له بده مرغه هغه څه چې په مسلمانو ښځو کې تيت شوي، د وېښتانو غوټه کول او له کفارو سره ورته والی دی، لکه د فرانسويانو، د ديانا د کيسې وېښتان او نور...

## په روزنې او پالنې سره خپل مسؤليت اداء کول

درې دېرشم: هغه روزنيز کارونه چې موږ يې ترسره کوو، د الله جل جلاله بنده گي او عبادت دی او په همدې اعمالو سره غاړه خلاصيږي، په رښتيني ډول موږ

---

۱. صحيح مسلم کتاب اللباس والزينه، بَاب النِّسَاءِ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ الْمَائِلَاتِ الْمُمِيلَاتِ رقم ۳ج ۱۶۸۰ص.

باید پر دې پوه شو، چې اصلي لارښوونکی الله تعالی دی، الله تعالی فرمایلي دي:

(إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ)[القصص:۵۶].

ژباړه: اې پیغمبره ﷺ! ته چې چاته وغواړې او خوښ دې وي، هغه ته هدایت نشې کولای خو الله تعالی چې چاته وغواړي هدایت ورته کوي.

او الحمد لله زموږ سره د هغه څه د تطبیق اسباب شته، کوم چې ذکر شول، برابره خبره ده هغه که په تشویق، زړورتیا او تهدید سره وي، دا ټول د مصطفیﷺ په سنتو کې راغلي دي.

له هر مور او پلار سره ډېر ذکاوت، ځیرکتیا او بیداري شته او د تل لپاره امانت ساتي، موږ وینو چې کومه لور کله مدرسې ته نه ځي، موږ هغه په خپل فکر سره هغه راغواړو، پوښتنه ترې کوو، چې ولې مدرسې ته نه ځي؟

او کوښښ کوو چې د دې کار درملنه په زیاتو لارو او وسایلو وکړو، تر څو دا کار ختم شي.

څه خبره ده چې د آخرت کارونه (د خلکو په ذهن کې) تر دنیا ارزانه دي.

یوې ښوونکې د ښوونې او روزنې له جریان څخه د خپلې تجربې یادونه وکړه او ویې ویل: موږ ته د زده کوونکې مور په یوه مضمون کې د نیمې نمرې د کمولو له امله اندیښمنه راځي، (یعنې وایي چې ولې یې د لور نمرې کمې دي) خو د لور اخلاقو او ادب په اړه پوښتنه نه کوي، یا چې له چا سره ملګري کوي، آیا د لور ملګرې یې نیکې دي که بدې؟

یا دا چې د لور په رویه باندې یې نیوکه شته که نه؟

زما څخه کومې مور په دې هکله پوښتنه نه ده کړې چې لور یې د معلمې احترام کوي که نه؟

او آیا لور یې په برخورد کې غوره ده که نه؟

په نیمه نمره کې څه خبره ده، چې مور یې خپه، تشویش او بې خوبه کړې او زیاته د ستړیا او ستومانۍ په حالت کې راغلې ده، مور ولې په لور باندې د دنیا له خجالت څخه ویریږي، خو د آخرت له اور څخه نه پرې ویریږي.

له الله ﷻ څخه د هغه احسان، لورینې او مهربانۍ له مخې غوښتنه کوم، چې زموږ نیتونه او اولادونه نیک کړي، موږ صحیح لاره موندونکي وگرځوي، لار ورکي مو نه کړي او د نعمتونو په جنت کې مو له خپل مور، پلار او اولادونو سره یو ځای کړي، لکه څرنگه چې الله ﷻ فرمایلي دي:

﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ﴾[الطور: ۲۱].

**ژباړه:** کومو کسانو چې ایمان راوړی دی او د هغو اولادونه هم د ایمان په کومه درجه کې د هغو په لار روان شوي وي نو موږ به د هغوی اولادونه هم (په جنت کې) له هغوی سره یو ځای کړو، او د هغوی په عملونو کې به ورته څه تاوان ونه رسوو، هر څوک د خپل کسب په بدل کې گرو دی.

د ژباړې د پای نېټه د سه شنبه شپه ۳۰: ۹ بجې

۱۱ / ۱۱/ ۱۴۴۰هـ.ش/ ۲۸/ ٦ / ۱۴۴۳هـ.ق

## مأخذونه


١- القرآن الكريم

٢- ابن أبي الدنيا، أبو بكر عبد الله بن محمد بن عبيد بن سفيان بن قيس البغدادي الأموي القرشي المعروف (المتوفى: ٢٨١ هـ) العيال، طبع: ضمن الجزء الرابع من موسوعة ابن أبي الدنيا، المحقق: فاضل بن خلف الحمادة الرقي، الناشر: دار أطلس الخضراء - الرياض، الطبعة: الأولى، ١٤٣٣ هـ - ٢٠١٢ م.

٣- ابن باز، مجموع فتاوى ورسائل الشيخ ابن باز.

٤- أبو الفداء، إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ٧٧٤ هـ) تفسير القرآن،العظيم المحقق: محمود حسن الناشر: دار الفكر الطبعة: الطبعة الجديدة ١٤١٤ هـ/١٩٩٤.

٥- الأصبهاني، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران (المتوفى: ٤٣٠هـ) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء،الناشر: السعادة - بجوار محافظة مصر، ١٣٩٤هـ - ١٩٧٤م.

٦- البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول اللهﷺ وسننه وأيامه = صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر،الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ.

٧- البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة ، أبو عبد الله (المتوفى: ٢٥٦ هـ) الأدب المفرد، المحقق: عصام موسى هادي، الناشر:

دار الصديق - الجبيل - المملكة العربية السعودية.

٨- البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحُسَين بن عليٍّ (٣٨٤ - ٤٥٨ هـ) السنن الكبير، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي،الناشر: مركز هجر للبحوث والدراسات العربية والإسلامية (الدكتور / عبد السند حسن يمامة)، الطبعة: الأولى، ١٤٣٢ هـ - ٢٠١١ م.

٩- الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك أبو عيسى، (المتوفى: ٢٧٩هـ)، سنن تزمذي،تحقيق وتعليق:أحمد محمد شاكر (جـ ١، ٢) و محمد فؤاد عبد الباقي (جـ ٣)وإبراهيم عطوة عوض الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر الطبعة: الثانية، ١٣٩٥ هـ - ١٩٧٥ م.

١٠- الدارقطني، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي (المتوفى: ٣٨٥هـ) سنن، حققه وضبط نصه وعلق عليه: شعيب الارنؤوط، حسن عبد المنعم شلبي، عبد اللطيف حرز الله، أحمد برهوم، الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت – لبنان الطبعة: الأولى، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م.

١١- السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي (المتوفى: ٢٧٥هـ)، سنن ابي داود، المحقق: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، الناشر: دار الرسالة العالمية،الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م.

١٢- الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد (المتوفى: ٢٤١ هـ)،مسند احمد ابن حنبل المحقق: مكتب البحوث بجمعية المكنز الناشر: جمعية المكنز الإسلامي. الطبعة: الأولى، ١٤٣١ هجرية، ٢٠١٠ م.عدد الأجزاء: ١٢.

١٣- الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم (المتوفى: ٣٦٠هـ): المعجم الكبير، المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي دار النشر: مكتبة ابن تيمية - القاهرة الطبعة: الثانيةعدد الأجزاء:٢٥. الطبعة: الأولى، ١٤٣٤ هـ - ٢٠١٣ م.
١۴- العسقلاني، أحمد بن علي بن محمد الكناني أبو الفضل، شهاب الدين، ابن حَجَر (المتوفى: ٨٥٢ هـ) مختصر زوائد مسند البزار على الكتب الستة ومسند أحمد، المحقق: صبري عبد الخالق أبو ذر،الناشر: مؤسسة الكتب الثقافية بيروت،الطبعة: الأولى ١٤١٢ هـ، ١٩٩٢ م.
١۵- القزويني، ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد ، وماجة اسم أبيه يزيد (المتوفى: ٢٧٣هـ) سنن ابن ماجه،تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي،الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي.
١٦- النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (المتوفى: ٢٦١هـ) صحيح مسلم، المحقق: مجموعة من المحققين، الناشر: دار الجيل - بيروت، الطبعة: مصورة من الطبعة التركية المطبوعة في استانبول سنة ١٣٣٤ هـ.

RAHMANI LIBRARY

رحماني کتابتون

# رحماني کتابتون

کانال عمومی

توضیحات

📚رحماني کتابتون : یو ادبي او علمي چینل دی ، چیرې چې ته کولی شې له هر ډول کتابونو، ناولونو، اسلامي اثارو، او ادبي لیکنو څخه برخمن شې.

🌱 رحماني کتابتون : د ځوان ذهنونو روزنتون .!
https://t.me/paktekawalafghan/7

t.me/paktekawalafghan

لینک دعوت

اعلان‌ها

فعال


Paktekawal Afghan
۵ هزار دنبال‌کننده‌ها • هزار دنبال می‌کنید
ملکرو زموږ د ټلیګرام چینل هم
در سره جوین کړئ .! مننه❤️👇🏽
https://t.me/paktekawalafghan/7
داشبورد حرفه‌ای
افزودن به داستان
تبلیغات
پست‌ها
درباره
ویدیو
عکس‌ها
رویدادها

دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره
او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون در سره وځارئ .

زموږ د ټلیګرام چینل لینک
https://t.me/paktekawalafghan/7

زموږ فیسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan

دا کتاب له رحماني کتابتون څخه ډانلوډ شوی . او هو د نورو غوره
او نویو PDF کتابونو لپاره رحماني کتابتون در سره وځارئ .
زموږ د ټلیګرام چینل لینک
https://t.me/paktekawalafghan/7
زموږ فیسبوک پاڼه
PaktekawalAfghan




هوښیار پلار او هوښیاره مور د لمانځه په اوله مرحله کې اولاد ته جایزه ورکوي او لمانځه ته یې تشویقوي، د مثال په ډول: په جای نماز کې اولاد ته حلوا (خواږه شیان) او پیسې ږدي، بیا خپله لور لمانځه ته راوغواړي او داسې ورته ووایي: لمونځ وکړه! الله به تاته پیسې او رزق درکړي، نو ماشومه پدې باندې خوشحاله کېږي، همدا راز له تشویقي کارونو څخه ماشومې ته جای نماز اخیستل او د هغه ساتنې ته تشویقول دي، له هغو وسائلو او لارو څخه چې ماشومه په لمانځه عادت کوي، دا دي چې د لمانځه د وختونو معلومول او مراعاتول ورته وسپارل شي، مور دې تل له خپلې لور څخه پوښتنه کوي چې آیا مؤذن آذان کړی؟ آذان ته څومره وخت پاتې دی؟ ترڅو د لور زړه له لمانځه سره وتړل شي.

RAHMANI
LIBRARY
رحماني کتابتون

حکمت خپرندویه ټولنه
0093 784075066
0093 774495865
جاده میوند، سر چوک، زېر زمیني عمر علي پلازه، کابل